د اطلاعاتو او کلتور وزارت
د افغانستان ملي راډیو تلویزیون لوی ریاست
General Directorate of National Radio and Television of Afghanistan


# خبري
# علمي
# سیاسي
# څېړنیزه
# ادبي
# او کلتوري
# مجله



# ملي

۱۴۰۳ کال - لومړۍ ګڼه

د ملي راډيو تلويزيون اداره چې د نظام په چوکاټ کې دننه او د اسلامي امارت له کورنۍ او بهرنۍ پاليسۍ سره سم په ورځني ډول له خبرونو علاوه په بېلابېلو برخو کې نشرات لري، بناً دا يې وپټيله چې د ملي په نوم يوه مجله په پښتو او دري ژبو په فزيکي او اليکټرونکي ډول چاپ او مينه والو ته يې وړاندې کړي.

په نوموړې مجله کې به علمي ،سياسي،اقتصادي، کلتوري، ادبي، خبري، معلوماتي او نور ټولنيز مطالب ځای پر ځای کېږي.

دا مجله به د سرمقالې تر څنګ ادبي او انځوريز مخونه هم ولري، پښتې به يې په بېلابېلو تاريخي او لرغونو مناظرو پوښل شوې وي .

په منځپانګه کې به يې داسې مطالب او ليکنې خپرېږي، چې د ټولنې هر فرد ورځخه ګټه واخلي.

اوس مو د نوموړې مجلې لوست او مطالعې ته رابولم، دا تاسو او دا هم د ملي مجلې لومړۍ ګڼه.

په ټوله ادبي مينه!
قاري محمد يو سف احمدي
د ملي راډيو تلويزيون عمومي رئيس

بسم الله الرحمن الرحيم

د امتیاز څښتن: د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون
مسوول مدیر: ظهور کمال
پښتو لیکوال او ګزارشګر: وحیدالله مومند
دري لیکوال او ګزارشګر: قیام‌الدین امانیار
ګرافیک ډیزاینر: حسیب‌الله پوپلزی
ایمېل: rtamagazine1320@gmail.com
پته: د وزیر محمد اکبرخان ۱۴سړک؛ د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون

- ملي مجله ستاسو وړاندیزونو، نظرونو او نیوکو ته په تمه ده.
- ملي مجله د لیکنو د اېډېټ او لنډېز حق خوندي ساتي.
- ملي مجله د لیکوالو، فرهنګیانو او شاعرانو لیکنو ته هرکلی وایي.



إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلىَ أَجْسَادِكُمْ وَلاَ إِلىَ صُوَرِكُمْ
وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلىَ قُلُوبِكُمْ

(مسلم)

ژباړه: الله ﷻ ستاسو صورتونو او مالونو ته نه گوري؛ بلکې ستاسو زړونو او عملونو ته گوري.

# مجلې لنډه تاریخچه

د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون خپرنى ارګان آواز مجله چې پخوانى نوم يې «پښتون ږغ» و، د ١٣٢٠ لمريز کال د وري مياشتي په لومړۍ نېټه تاسيس او په همدې کال يې په خپرونو پيل وکړ. پښتون ږغ تاريخي مجله د ثور له بدمرغه تحول وروسته د (آواز) په نوم ونومول شوه. له ١٣٧١ نه تر ١٣٨٠ کالونو پورې يې يوازې دوې ګڼې چاپ شوې. په ١٣٨٢ کې يوه ګڼه او له ١٣٨٣ کال راپدېخوا په مسلسل ډول خپرېده. لکه څرنګه چې تاسو پوهيږئ د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د خپلو راډيويي او تلوېزيوني چاينلونو نومونه هم د (ملي) له کلمې سره تړلي دي لکه ملي نيوز، ملي سپورټ، ملي تلوېزيون، ملي راډيو او داسې نور..

د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون رهبرۍ د دې اداري هويت او نوم ته په کتو د آواز مجلې نوم هم «ملي مجله» وټاکه.

اوس مهال د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د يوې معتبرې دولتي رسنۍ په توګه د خپلو غږيزو او انځوريزو خپرونو تر څنګ د چاپي مطبوعاتو په برخه کې (ملي مجله ) د چاپ په ګاڼه ښکلې کوي، چې ټولو د قلم خاوندانو او د ادب مينه‌والو ته د ملي مجلې د نوې ګڼې د چاپ مبارکي وايوو.

# لړلیکونه


سرمقاله ۱

د افغانستان ملي راډیوتلوېزیون موټرونه په سټېکرو وپوښل شول او ... ۲

تعمیرهای تاریخي رادیو تلویزیون ملی افغانستان بازسازی گردید. ٤

مستندونه او راتلونکی بدلون ٦

دست اوردهای رادیو تلویزیون ملی افغانستان در بخش تخنیک ۸

د افغانستان ملي تلوېزیون برنډینګ څنګه بدل شو؟ ۱۰

د ملي راډیو تلوېزیون د کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې سیمنارونه... ۱۲

د کابل ښار په یکه‌توت کې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون غصب شوې ځمکه... ۱٤

ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی افغانستان ملکیت های از دست رفته اش... ۱٦

د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د ټولو راډیویي او تلوېزیوني خپرونو... ۱۸

ترنم راډیو؛ ستاسو د ادبي او هنري ذوق چینه ۲۰

هېوادوالو ته د لاښې اسانتیا لپاره د پذیرش مدیریت... ۲۲

د ملي راډیو تلوېزیون د لاښه مدیریت او د کارونو د اسانتیا په موخه د ارزیابی... ۲۳

| | |
|---|---|
| ملي سپورټ؛ د افغانستان د ورزش غږ | ۲۴ |
| امارت اسلامی در صدد نابودی مواد مخدر | ۲۶ |
| د افغان مجاهدینو د بریا او شوروي یرغلګرو د ماتې ورځ ونمانځل شوه | ۲۸ |
| د حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم ژوندلیک | ۳۲ |
| د دیني ارزښتونو په رڼا کې د اسلامي امارت ملاتړ | ۳۶ |
| حکایتونه | ۳۸ |
| پاکي د ایمان برخه ده | ۴۰ |
| د سالنګ تونل او د هېواد والو خوښي | ۴۴ |
| کوچه های شهر کابل خالی از گدایگران | ۴۵ |
| کابل ښاروالی او پراخ بدلون | ۴۶ |
| میله دهقان و سی ومین نمایشگاه بهاری محصولات زراعتی برگزار گردید | ۴۸ |
| ضعف تالیف | ۵۰ |
| شعرونه | ۵۶ |
| د قوش‌تېپې کانال اقتصادي ارزونه | ۶۳ |
| برگشت مهاجرین و عودت کننده‌گان به کشور | ۶۸ |
| فکري خپلواکي څه ده؟ | ۷۰ |
| ستاسو برخه | ۷۴ |

د اسلام مبارک او سپیڅلي دین د عفوې یا بښنې د ارزښت په تړاو ټینګار کړی او مسلمانانو ته یې ښکاره ویلي، چې تاسو یو بل ته عفوه یا بښنه وکړئ، بښنه انسان ته ښکلا ورکوي، د انسان ارزښت په ټولنه کې لا ډېروي او انسانان په دې خاورینه نړۍ کې د ورورولۍ ژوند ته رابولي. افغانستان په تېرو ۴۰ کالونو کې څو ځله د بهرنیو یرغلونو قرباني او په دې پاکې اسلامي خاورې له حده زیات جنایتونه تر سره کړل. په دې خاوره یې د وحشتونو ریکارډونه جوړ کړل. افغانان د سولې تږي دي او همیشه یې د الله پاک له درباره د سولې غوښتنه کړې. څه کم درې کاله کېږي، چې د افغانستان اسلامی امارت بریا تر لاسه کړې او د هېواد واک یې په لاس کې اخیستی، په دې ناکراره خاوره د امن او سولې نسیم خور شو او افغانان اوس په سوله کې ژوند کوي. د سولې تر څنګ د افغانستان اسلامي امارت تر ټولو لویه او اړینه لاسته راوړنه عمومي عفوه وه، چې ټولو افغانانو او حتا د دوی سره په جنګ کې ښکېلو ته یې عفوه وکړه؛ ددې عفوې مېوه دومره خوږه وه، چې هېچا د سر او مال زیان ونه لید، ټولو د آرامۍ ساه واخیسته او د رب شکر یې ادا کړ.

په تېرو څه کم ۴۰ کالونو کې په لومړي ځل د هېواد په بشپړه جغرافیه اوس مهال د امن او سولې فضا خوره ده او هر څوک خپل کار او روزګار ته پرته له وېرې او تشویش دوام ورکوي. د هېواد د بیارغونې لپاره قوي متې په کار دي، چې اوس مهال د هېواد په تاریخي او ملي پروژو کار روان دی، ځینې یې بشپړې شوې او ځینې یې د رغونې په حال کې دي. د کابل ښار بدلون کړی، هر لوري ته د امن فضا خوره ده، د ښار ښکلا ته د پام وړ توجه شوې ، د سالنګ لوی تونل له څلوېښتو کالونو وروسته بیا ورغېد. د کابل کندهار لویه لار له سره رغول کېږي، چې کار پرې روان دی او د قوشتېپې په څېر تاریخي کانال به ډېر ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دا هېواد په رغېدو دی، دا هېواد به ابادیږي او د سولې ورمې به یې لا پسې خورې وي.

# د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون

## موټرونه په سټېکرو وپوښل شول او کارکونکو ته یې یونیفرم ووېشل شو






هره معیاري رسنۍ، موسسه او بنسټ، د یو لړ ځانګړي برنډېنګ په درلودلو سره فعالیت کوي او د هغه رنګونه چې دوی یې په خپلو موټرو، جامو او کارځایونو کې کاروي، نور خلک یې پېژني. په همدې بنسټ د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون هم دا مهمه اړتیا بلله؛ چې د خبریالانو د خوندیتوب، نظم او همغږۍ په موخه خپلو ساحوي کارکوونکو لکه راپور ورکوونکو، موټر چلوونکو او کېمره‌مینانو ته ځانګړې جامې جوړې او توضیح کړي؛ چې په کاري ساحه کې په اسانۍ وپېژندل شي او له ستونزو څخه په امان وي. دې ته ورته د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ټول موټرونه چې پکې راپور لیکوونکي، ویاندویان او نور خبریالان په وخت اړوندو سیمو ته لېږدوي، اوس مهال په ځانګړو سټېکرونو پوښل شوي. دغه جامې او د موټرونو سټېکرونه د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون د ځانګړي برنډېنګ « د رنګونو د ترکیب» په اساس جوړ او ترتیب شوي دي، چې له ورایه یې عام وګړي په اسانۍ پېژني. تر دې وړاندې د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون خبریالانو کومې ځانګړې جامې نه درلودې او نه یې هم موټرونه خلکو او امنیتي ځواکونو پېژندل، چې له سیمو څخه د راپور ورکولو په مهال به له ګڼو ټرافیکي ستونزو سره مخ کېدل، خو اوس مهال دغه ستونزې حل شوي او هڅې رواني دي، چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د ټولو وسایلو او وسایطو د خوندیتوب، بانظمه کېدو او د اداري کارونو د ژر ترسره کېدو په موخه ټولې ستونزې حل شي. د دې اداري کارکونکي د رهبرۍ له دې اقدام ستاینه کوي او وايي، چې تر دې وړاندې به د ساحوي راپور ورکوونې پر مهال د موټرونو او کارکوونکو د نه پېژندلو په اساس له ګڼو ټرافیکي او امنیتي ستونزو سره مخ وو. دوی زیاتوي چې اوس مهال یې عام خلک او امنیتي ځواکونه له ورایه پېژني، درناوی یې کېږي او ټولو ستونزو او کار ځایونو ته په وخت رسېږي. د یادونې وړ ده؛ چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د تعمیرونو ځینې دروازې رنګ شوي او ځینې نورې یې په ښکلو سټېکرونو داسې پوښل شوي، چې د ودانیو ښکلا یې لازیاته کړې ده. د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون رهبرۍ تل د خپلو کارکونکو د ستونزو او اړتیاوو غږ اورېدلی او د حل‌لارو په موخه یې جدي اقدامات کړي. د دې تر څنګ اوس مهال د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ټول کارکوونکي پرته له کومې غوښتنې افغاني جامې، خولۍ، لونګۍ او واسکټونه په خپله خوښه کاروي، چې دا په رسنیزه برخه کې د خپل کلتور د بډاینې په موخه یو غوره اقدام دی.

# تعمیرهای تاریخی
## رادیو تلویزیون ملی افغانستان بازسازی گردید

رادیو تلویزیون ملی افغانستان سابقه دار ترین ارگان نشراتی کشور میباشد این رسانه ملی و دولتی که در چتر وزارت اطلاعات و فرهنگ فعالیت می‌نماید در بخش های مختلف، نشرات و اطلاع رسانی می‌کند، رادیو تلویزیون ملی افغانستان با داشتن ده ها جریب زمین در ساحه وزیر محمد اکبرخان کابل چندین تعمیر و آبادی را در اختیار دارد این تعمیرها طبق ضرورت در زمان‌های مختلف ساخته شده و برخی از این تعمیرها که با مرور زمان فرسوده شده بود به ترمیم و نوسازی ضرورت داشت.
بعد از آن که افغانستان توسط امارت اسلامی فتح گردید خوشبختانه به بخش های فوق توجه صورت گرفت و این تعمیرها دوباره توسط تیم های خدمات رادیو تلویزیون ملی ترمیم و بازسازی گردید، تعمیر نشرات رادیو که چند دهه پیش اعمار گردیده بود کلکین‌ها و دروازه هایش از کار افتاده بود رنگ هایش ریخته بود، اکنون دوباره ترمیم‌کاری گردید بجای کلکین‌ها و دروازه‌های فرسوده با کلکین‌ها و دروازه های پی وی سی مزین شد همچنان به گونه‌ای اساسی رنگ آمیزی گردید در ضمن تیم خدمات با کمک یک شرکت به ترمیمکاری اساسی تعمیر سنگی تلویزیون دست یافت، اکنون نیز در بخش ترانسپورت ترمیم و صفا کاری جریان دارد پرسونل آمریت خدمات مصروف کار اند تا راه ترانسپورت را به محوطه رادیو تلویزیون ملی باز نمایند تا اینکه در آینده موتر ها از محوطه رادیو تلویزیون ملی به پارکینگ ترانسپورت رفت و آمد نماید همچنان در پارکنیگ ترانسپورت یک دیوار به طول حدوداً پانزده متر با بلندی تقریبی سه متر از خشت پخته اعمار گردید، سیستم آب و نلدوانی تعمیرهای نشرات رادیو، ریاست تخنیکی و تعمیر محاسبهٔ سابقه ترمیم و بازسازی گردید.
لازم به ذکر است که در چهار اطراف تعمیرهای رادیو تلویزیون ملی که چمن‌ها، انواع مختلف گل‌ها، درختان انگور و چیله‌های آن نا منظم شده بود دوباره به گونه‌ای اساسی صفا کاری و مرتب گردید همچنان در بعضی مکان‌ها

چمـن کاشـته شـد از آن جملـه پیـشروی مسجد شریـف بـا سـاختن فـواره آب و کاشـت چمـن زیبـا شده اسـت، اینکـه بدبختانـه سـطح آب زیـر زمینـی روز بـه روز پاییـن میـرود چـاه آب تعمیـر تکنالـوژی خشـک شـده بـود در نزدیکـی ایـن تعمیـر چـاه جدیـد بـا عمـق هشـتاد مـتر حفـر گردیـد و دوبـاره سیسـتم آب آن تعمیـر تنظیـم شـد، فعـلا مشـکل آب در آن تعمیـر برطـرف شـده اسـت.



# مستندونه او راتلونکی بدلون

مستندونه د رسنیو په ډګر کې د تحقیقي ژورنالیزم یو غوښنه برخه ده، په همدې اساس د افغانستان ملي راډیو تلویزیون د لومړي ځل لپاره غواړي، په نړدې راتلونکي کې هېوادوالو او نړۍوالو ته د افغانستان د تاریخ او په ځانګړې توګه د تېر شل کالن اشغال هغه پېښې چې له افغانانو سره پکې ناوړه وحشتونه شوي، پر کورونو یې چاپې وهل شوي، په میلیونونه هېوادوال یې شهیدان کړي، د هېواد د طبیعي زېرمو چور یې کړی او افغانستان یې د خپلو موخو په ترلاسه کولو کې د یوه بې کسه او بې وسه غریب هېواد په توګه یرغمل کړی و، په اړه یې مستندونه جوړ کړي او تر څنګ یې د تاریخي موضوعاتو سربېره د هېواد په کورني او بهرني سیاست چې د افغانستان د ګټو په اساس ولاړ دی د تېر او اوس پرتله، له نړیوالو سره ښې اړیکې، همدارنګه په اقتصادي برخو کې کورني او بهرني پانګوال رابلل، د لویو پروژو عملي کول، په افغانستان کې د طبیعي زېرمو تصفیه، د اقتصادي شرکتونو پر جوړېدنه، د ګرځندویانو جذب او د ځوانانو د فکری روزنې په موخه د ټکنالوجۍ په برخه کې د بدلونونو په اړه د مستندونو لوی امریت رامنځته کړي، چې د دې خپلواک امریت په اډانه کې به درې نور امریتونه چې لاندې یې په واضح ډول د موخو یادونه شوې، جوړ کړي.

## د تاریخي مستندونو امریت:

د دې امریت کارکوونکي به هڅه کوي، تر څو د افغانستان په تاریخ کې ټولې مهمې پېښې راوسپړي، له نړدې سیمو یې لیدنه وکړي، له کتابونو پیل تر عامو خلکو چې په یاد تاریخي بهیر کې دخیل وي، پوښتنې وکړي، تر څو واقعیت په بې پرې توګه مستند شي او د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو سوچه او کره معلومات د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون له څپو وړاندې کړي. د دې مستندونو امریت یوه ځانګړې او مهمه برخه د تېر شل کالن اشغال د جنایتونو بربنډول دي، چې په تېرو شلو کالونو کې د افغانستان په نوم په یوه غریب هېواد هوایي او ځمکنۍ اشغال کېږي، په خپله خاوره کې یې افغانان مجرم ګڼلي، شهیدان کړي یې دي، په مدرسو او مکتبونو کې یې ماشومان شهیدان کړي، په کورونو یې ور اوښتي، بندخونو ته یې وړي، په ټوله کې به دوی کوښښ کوي، چې هغه مسایل چې حقیقت دي، د هېوادوالو او نړیوالو تر غوږونو او سترګو ورسوي او مستند یې کړي.

## د سیاسي او اقتصادي مستندونو امریت:

دا امریت بـه د افغانسـتان اسلامـي امـارت لـه واکمنېـدو را وروسـته د افغانسـتان پـه سیاسـت او اقتصـاد کـې تېـر، روان او راتلونکـي بدلونونـه څېـړي، همدارنګـه بـه د افغانسـتان د داخلي او بهـرني سیاسـت د ګټـو پـه اسـاس او لـه نړیوالـو سره د ښـو اړیکـو پـه جوړولـو کـې د پـام وړ بدلونونـو پـه اړه مسـتندونه جوړوي، پـه اقتصـادي برخـه بـه د هېـواد پـه لویـو پـروژو، بندونـو، داخلي او بهـرني اقتصـادي تړونونـو، سـړکونو، طبیعـي زېرمـو او نـورو مسـایلو چـې د هېـواد لـه پرمختـګ، ابـادۍ او سـوکالۍ وړمـې خپـروي، پـه انځوریـزه بڼـه او ښـه کیفیـت بـه مسـتند کېـږي. پـه دې سره بـه ولـس تـه وښـودل شي؛ چـې اسلامـي امـارت د افغانسـتان ګټـو تـه ژمـن اسلامـي نظـام دی، او بلـه مهمـه خبره دا چـې ددې مسـتندونو پـر مـټ بـه د خلکـو او حکومـت تـر منـځ اړیکـې لاټینګـې شي او د حکومتـي چارواکـو پـام بـه د هېـواد مهمـو موضوعاتـو تـه د نـورو اقداماتـو پـه موخـه اړوي.

## د ټکنالوجۍ مستندونو امریت:

پـه دې امریـت کـې بـه د افغانسـتان ملي راډیـو تلوېزیـون کارکوونکـي د هغـو ټولـو اسلامـي او ملي ارزښـتونو خلاف رسـنیو پـه مقابـل کـې چـې د مسـلمانانو د هویـت پـه لمنځـه وړلـو بوخـت دي او د ځـوان نسـل روزنـه پـه نـاوړه افـکارو کـوي، دوی بـه یـې د اسلامـي قوانینـو، لارښـوونو، علمـي دلایلـو، څېړنـو او عامـه پوهـاوي پـه پـراخ پوښـښ مخنیـوی کـوي. د نړۍ دېـرۍ هېوادونـه اوس مهـال هڅـه کـوي د اسلامـي هېوادونـو د ځوانانـو یـا اوسـېدونکو ذهنیـت اسـتعمار کـړي، د هغـوی پـه کلتـور کـې خپـل افـکار ور ګـډ کـړي او خپلـو موخـو تـه پرتـه لـه کـوم زیـان ورسـېږي. دا امریـت بـه د ټولـو هغـو خپرونـو پـر ضـد فعالیـت کـوي، چـې د اسلام مقـدس دیـن، د افغانانـو لـه عقیـدې او کلتـور سره پـه ټکـر کـې وي، د دې تـر څنـګ بـه هڅـه کـوي، د افغانانـو پـر فکـري سـالمې روزنـې کار وکـړي، دا مسـتندونه بـه د اسلامـي عقایـدو او افغـاني کلتـور سره سـم پـه انځوریـزه بڼـه مهمـې سـوژې تـر لیدونکـو رسـوي.



# دست آورد های رادیو تلویزیون ملی در بخش تخنیک

رادیو تلویزیون ملی افغانستان منحیث یگانه رسانه ملی و دولتی افغانستان که حیثیت مادر رسانه ها را در سطح کشور دارا میباشد متعهد است تا برای هموطنان در بخش های مختلف نشرات موثر و به موقع نماید، زمانیکه امارت اسلامی افغانستان اختیار مملکت را بدست گرفت در هر بخش به اصلاحات و نوسازی آغاز کرد و در این زمینه رادیو تلویزیون ملی ضمن بازسازی سایر بخش ها در بخش تخنیک رادیو تلویزیون ملی فعالیت خویش را ثابت ساخته است.

ریاست تخنیکی که در تشکیل جدید با داشتن حدود دو صد و سی بست با چندین تیم ورزیده، لایق، وظیفه شناس و مسلکی در بدنه ریاست عمومی رادیوتلویزیون ملی فعالیت میکند و سیستم های تخنیکی تلویزیون، رادیو، کمره، ستدیو، کنترول انترنت، امواج نشر، بخش های نشرات زنده، سیستم تامین برق ... را با تقاضای عصر با رعایت اصل صرفه جویی و دست آورد زیاد عیار و تنظیم می نماید.

بعد از روی کار آمدن دولت امارت اسلامی افغانستان رهبری رادیو تلویزیون ملی نیز به یک سلسله اصلاحات آغاز نمود که در بخش تخنیک تلویزیون دست آورد های چشمگیر داشته است از آن جمله میتوان از تجهیز و ترمیم نمودن ستدیوی ملی سپورت، افتتاح ماستر کنترول جدید نام‌برد که توسط آن همزمان نشرات چهار چینل تصویری (تلویزیون ملی، ملی نیوز، ملی سپورت، تلویزیون تعلیمی و تربیتی) و چهار چینل رادیویی (رادیو افغانستان، رادیو صدای شریعت، رادیو ترنم، رادیوی تعلیمی و تربیتی) از مرکزیت واحد کنترول میشود.



همینگونه تیم های تخنیکی توانستند تا نشرات برنامه های رادیو افغانستان از طریق انترنت بطور لایف ستریم در سرتاسر جهان و از طریق ستلایت (YAHSAT) در سراسر قاره آسیا و اروپا در دسترس باشد، نصب و تامین مجدد نشرات رادیو شریعت در ده ولایت کشور، ترتیب و تنظیم (اوبی وان) ایچ دی، همچنان در ولایات نیز وسایل و تجهیزات زیادی ترمیم گردیده است از آن جمله ترمیم دو پایه کمره و ویدیو مکسر در ولایت لغمان، چهار پایه مکسر آواز در ولایت کندهار ترمیم فرستنده های رادیو تلویزیون غور و ترمیمکاری و سایل در ولایت غزنی، بدخشان، تخار، بغلان، هرات، بامیان، ارزگان، کاپیسا، و سایر ولایات طبق ضرورت صورت گرفته است.

همچنان تنظیم و سیستم سازی برق برای صرفه جویی و جلوگیری از سکته‌گی در برق، فعال ساختن دوباره ستدیو های تلویزیون و دیمونتاژ سازی ستدیوها به طور فنی و عالی در تعمیر تلویزیون که حدود پنج ماه وقت را در بر گرفت، نشرات از طریق ستلایت ایکسپریس بجای ستلایت ترکمن عالم عیار گردید تا اینکه مهاجرین افغانستان در سایر کشور ها از نشرات رادیو تلویزیون ملی مستفید شوند، اینکه ستلایت ایکسپریس نتیجه بخش نبود نشرات از طریق ستلایت یاهست دوباره عیار گردیده و نشرات از طریق آن جریان دارد، نشرات زنده از طریق ویب سایت های رادیو تلویزیون ملی در سرتاسر جهان، از جمله دست آورد های برجسته رادیو تلویزیون ملی در بخش تخنیک می‌باشد که تا فعلاً انجام شده است تیم تخنیکی رادیوتلویزیون در آینده نیز روی عصری سازی این رسانه با تکنالوژی نوین تلاش می‌ورزد.

# د افغانستان

# ملي ټلویزیون برنچینګ څنګه بدل شو؟

د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د عمومي رئیس قاري محمد یوسف احمدي، د ملي راډیو تلوېزیون مرستیال هدایت الله هدایت او د ګرافیک ډیزاین برخې د کارکونکو په زیار او هڅو د افغانستان ملي ټلوېزیون د سکرین برنډېنګ بدل شو.

په نړۍ کې د هرې اداري برنډېنګ یو له بل توپیر لري او د هرې ادارې، شرکت، موسسې، ښوونیزو، اسلامي، کلتوري، سیاسي ، ټولنیزو او روزنیزو بنسټونو لپاره برنډېنګ « د رنګونو جوړښت او ترکیب» درلودل یو مهم او اساسي اصل دی، چې د هغه له مخې د یوې اداري یا بنسټ نښې او موخې پېژندل کېږي. په همدې اساس په رسنیزه برخه کې هم د سکرین، چاپي توکو او غږیزو بڼو لپاره یو معیار په نظر کې نیول کېږي او د هغه له مخې ټولنې ته خپرونې وړاندې کېږي. برنډېنګ خورا لوی ارزښت لري او د لوګو«ټاپې» په څېر د یوې رسنۍ د سیمبولونو یوه ارزښتناکه برخه ده. په دې اساس د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون وتوانېد، چې په ډېره کمه موده کې د خپل سکرین برنډېنګ د ټولنې او د افغانستان اسلامي امارت له اړتیاوو سره سم ترتیب او تنظیم کړي. د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون په کاري او رسنیزو برخو کې د پرمختګ، نوښت او خلاقیت په موخه هڅه کوي، چې په نړۍوالـه کچه د افغانستان د خلکو ښه استازولي وکړي. د همدې هدف د تر لاسه کولو په موخه د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون په دې برنډېنګ کې ساعت، د اسعارو او د لومړنیو خوراکي توکو بیې، ټایټل خبرونه، د هوا حالات، د ټولنیزو رسنیو د پتو «ادرسونو» نوملړونه او پکې د میاشتې یا اونۍ مهم پیغامونه ځای شوي دي. دغه برنډېنګ د افغانستان ملي ټلوېزیون د خبرونو، ژوندۍ خپرونو او ټولنیزو رسنیو د برنډېنګ « د رنګونو، غږونو او شکلونو د ترکیب» په موخه جوړ، له څو مرحلو تېر او له بیا ارزونې وروسته د افغانستان ملي تلوېزیون په سکرین پلی او خپور شو. د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د ډیزاین برخې کارکوونکې هڅه کوي، په نړۍواله کچه او له نویو مفکورو سره د برنډېنګ په برخه کې خپل کار او کمال له وخت سره اړوند ژوندۍ وساتي، تر څو د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ټولې خپرونې د افغانستان او نړۍ د خلکو د پام وړ وګرځي او نشرات یې په لوړ کیفیت، رساغږ او چټک سرعت د نړۍ له نورو راډیو تلوېزیونونو څخه لوړ شي.

د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له هرو شپږو میاشتو وروسته له وخت، اړتیا او ګډو اداري موخو ته د رسېدو لپاره د خپل تصویر برنډېنګ ته بدلون ورکوي، چې له معیاري اړخه د نوښت، ښکلا او بدلون له مخې د خلکو د پام وړ وګرځي.

هېره دې نه وي، چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ټولې خپرونې په لوړ کیفیت او شفافه بڼه خپرېږي.



# د ملي راډيو تلوېزيون کارکوونکو لپاره د ظرفيت لوړونې سيمنارونه پيل شول

د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د رهبرۍ او د بشري سرچينو امريت په هڅه او زيار د ظرفيت لوړونې د سيمنارونو لړۍ پيل شوه.

د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د افغانستان يوازينی تاريخي تلوېزيون دی، چې نږدې سل کاله تاريخي قدامت لري. د تکړه مسلکي کسانو، انجينرانو، تخنيکي ټيمونو تر څنګ د هېواد غوره مسلکي، تجربه لرونکي او تکړه خبريالان پکې په دندو بوخت دي، چې کالونه يې د خپل ولس لپاره زحمتونه کاږلي او دغه رسنۍ يې پياوړې او خوندي ساتلې ده.

اوس همدا تخنيکي انجينران غواړي، د هېواد ځوان نسل هم په مسلکي ډول وروزي، چې په دې برخه کې خپلې لاسته‌راوړنې او پوهه له نورو همکارانو سره شريکه کړي.

د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون عمومي رئيس قاري محمد يوسف احمدي او مرستيال هدايت الله هدايت د دې لړۍ په پرانيسته کې ګډون کړی و او دا برخه يې د ښو اداري پرمختګونو، مسلکي چلند او د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د کارکوونکو د روزنې لپاره مهمه وبلله او ټولو کارکوونکو ته يې لارښوونه وکړه، چې د اوسنۍ ټکنالوجۍ له غوښتنو سره سم ځانونه وروزي، زده کړې ترلاسه کړي او خپله ورتيا د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون په اډانه کې ثابته يا عملي کړي. د دې سيمنارونو پر مخ وړلو يا د زده کړې د ورکړې لپاره مسلکي ښوونکو ته په بېلابېلو برخو کې دنده سپارل شوې، چې د تخنيکي وسايلو پر پوهېدنې او کارونې سربېره به د ژورنالېزم د مسلکي زده‌کړو او نورو هنري نوښتونو په اړه لازمې زده کړې د ملي راډيو تلوېزيون کارکوونکو ته ورکوي. په

دې سیمنارونو کې به د راډیو تلوېزیون تخنیکي وسایلو، مایکونو کارولو، غږیزو ثبتونو، په کمپیوټري پروګرامونو لکه اډاب اډېشن د غږیزو ثبتونو لپاره، اډاب فریمیر د ویډیو اډیټنګ ، ګرافیک ډیزاین لکه فوټوشاپ، اېن ډیزاین، الستېراټور ، ډرون کمرې ، کمپیوټري پروګرامونو د کارولو، شاټ اخیستلو، مسلکي ډایرکټري کولو، راپور ورکولو پر ډولونو او د ویاندویانو لپاره د هنري نوښتونو د لارو چارو زده کړې ورکول کېږي.

د ظرفیت لوړونې په دې لومړي سیمنار کې د ډرون کمرې ځانګړتیاوې، الوتنه، شاټ اخیستنه، ډولونه او د کارولو لارو چارو په اړه لارښوونې وشوې او بیا یې په عملي بڼه ورته له ډلیزې زده کړې سربېره فردي عملي زده کړه هم ورکړه، د دې ترڅنګ به یې دویمه زده کړه د کامرو او ډولونو یې وي، چې څو ډوله کامرې دي، کومې ځانګړنې لري، څه ډول باید وکارول شي، ورسره کارېدونکي وسایلو لارې چارې وښودل شي.



# د کابل ښار په یکه‌توت کې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون غصب شوې ځمکه را وګرځول شوه



په تېر شل کالن اشغال کې له ادراي فساد سربېره د ځمکو او املاکو د غصب موضوع ډېره لويه او د پام وړ موضوع ده. زورواکو له خپل قدرت او زور څخه په ګټې اخيستنې ډېرې دولتي ځمکې د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې غصب کړې وې، چې د افغانستان اسلامي امارت د يوه واحد، بې پرې، ملي او اسلامي ګټو ته ژمن اسلامي نظام په توګه دا مسووليت وګاڼه تر څو له ټولو زور واکو هغه ځمکې چې مخکې پکې اداري فساد شوی و او غصب شوې وې، په ټول هېواد کې په لنډ وخت کې تصفيه او استرداد کړې، چې اوس مهال يې هم له غصب څخه د مخنيوي چارې په چټکۍ روانې دي. د عدليې وزارت ويلي، چې په افغانستان کې په تېرو شلو کالونو کې په بې ساري ډول غصب شوی دی، په همدې اساس عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القرآن و الحديث مولوی هبة الله اخند زاده حفظه الله د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي کميسيون جوړ کړ او په لنډه موده کې يې وکولای شول، د هېواد په ټولو ولايتونو کې په زرګونه جريبه ځمکه له غصب او زورواکو راوګرځوي، چې دا د افغانستان په تاريخ کې په عدل او اسلامي قوانينو ولاړ هغه ګړندی اقدام دی، چې بل هېڅ حکومت ترسره کړی نه دی.
د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون لوړې رهبرۍ ته د افغانستان ملي راډيوتلوېزيون ځينو مخلصو کارکوونکو په يکه‌توت کې د ۱۲نيم جريبه ځمکې د غصب يادونه وکړه، چې دا ځمکه په تېر شل کالن اشغال کې د حاجي جميل په نوم شخص غصب کړې وه او حاجي جميل دا ځمکه د احمديار پمپ، د ريګربشن ساختماني شرکت او د استهلاک شويو توکو ( کباړي) ته په کرايه ورکړې وه او دولت ته يې ماليه هم نه ورکوله، غصب کړې وه. د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون رهبرۍ د خپلو همکارانو له دې غوښتنې غوږ ملاتړ وکړ او ياده موضوع يې د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت محترم سرپرست وزير شيخ عبدالحکيم شرعي سره شريکه کړه، چې بيا وروسته يې په ګډه ټول اسناد او ورته موضوع د کابل له امينه قومندانۍ، له غصب

څخه د مخنیوي لـه کمېسیون او د هېواد لـه قضایـه قـوې سره شریکـه کـړه، د یـادې ځمکـې غاصب دعوه درلوده، چې دا ځمکه ورتـه لـه پلرونو او نیکونو پاتې ده، خو کله چې امارتي ادارو پـه بې پرې ډول خپل تحقیقات د څو ادارو پـه همغږۍ وکړل، پـه پایلـه کې یې یاده ځمکه د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ملکیت وګڼـه او پـه هغـه سیمه کې شته پمپ، ساختماني شرکت او کباړځای یې ونړاوه. د افغانستان ملي راډیـو تلوېزیـون پـه را روان کال کې غـواړي، چې پـه دې ځمکـه کې د ملي سپورټ تلوېزیوني چاینل (R-T-A SPORT) لپاره لـوی کمپلېکس د دوو بېلابېلو لوبو میدانونه جوړ کړي او د دې میدانونو شاوخوا لـه ۱۰ زرو څخـه تـر ۱۲ زرو کسـانو لیدونکو لپاره ځای‌ناستی جوړوي. دا لیدنځای به درې برخې لري چې لومړی برخه به یې (VIP) د ځانګړو مېلمنو او خلکو لپاره وي، دویمه برخه به یې د متوسطه خلکو لپاره وي (SAMI VIP)او درېیمه برخه به یې د عامو خلکو لپاره وي، د دې لوی کمپلېکس پـه جوړېدو بـه د افغانستان ملي سپورټ تلوېزیون لـه بې ځایـه لګښتونو مخنیوی وکړي او خپلې خپرونې به پـه همدې سیمه کې لـه بېلابېلو استادانو، لوبډلو او خلکو څخه ثبت یا پـه ژوندۍ بڼه خپروي. د افغانستان ملي راډیـو تلوېزیـون رهبرۍ ویـاړي، چـې د یکه‌تـوت ۱۲نیـم جریبـه ځمکـه چـې ۱۴ یـا ۱۵ کالونـو وړانـدې غصب شـوې وه، اوس مهـال خپـل ملکیـت بېرتـه ترلاسـه کـړ او غـواړي پـه راتلونکـي کـې د خپلـو رسـنیزو چـارو د لا پراختیـا او ښـه والي لپـاره پکـې پانګونـه وکـړي. د یادونـې وړ ده، چـې غاصـب یـا حاجـي جمیـل د غصـب پـه ټولـه مـوده کـې د افغانسـتان حکومـت تـه د دې ځمکـې مالیـه ورکـړې نـه ده، بلکـې همـدا ځمکـه یـې چـې پـه کرایـه ورکـړې وه، پیسـې یـې خپلـه اخیسـتې دي، د افغانسـتان ملي راډیـو تلوېزیـون یـې د کرایـه د نـه ورکـړې او نـورو چـارو د تصفیـې پـه اړه هـم دوسـیه د افغانسـتان اسلامـي امـارت محکمـې تـه وړانـدې کـړې ده.





## ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی افغانستان

# ملکیت‌های

## از دست رفته‌اش را دوباره تصاحب کرد



رادیو تلویزیون ملی افغانستان بعد از روی کار آمدن دولت امارت اسلامی افغانستان دست آوردهای متعددی داشته است من‌جمله زمینی که طبق یک قرارداد مبهم، به بانک انکشاف آسیایی سپرده شده بود؛ دوباره به این ریاست تعلق گرفت.
ریاست رادیوتلویزیون ملی افغانستان در ساحه وزیر محمد اکبرخان شهر کابل موقیعت دارد، تعمیرات مورد ضرورت این ریاست در سرک چهاردهم ساحۀ وزیرمحمد اکبرخان در اراضی ده ها جریب زمین اعمار گردیده است اکنون ریاست این رسانۀ ملی و دولتی نیز در همین مکان فعالیت دارد.
دولت سابق در یک تصمیم غیر منطقی و قرارداد مبهم بیست و پنج هزار و هشت صد متر مربع زمین این رسانه را از بدنه حویلی این ریاست در ساحه وزیرمحمد اکبر خان شهر کابل جدا کرده و به بانک انکشاف آسیایی سپرده بود، طعام‌خانه و کمپلکس ناتکمیل رادیو تلویزیون ملی نیز در همین زمین موقیعت داشت، در این تصمیم یک جانبه بدون در نظرداشت ضروریات حال و آیندۀ رادیو تلویزیون ملی افغانستان زمین متذکره به بانک انکشاف آسیایی سپرده شده بود.
زمانیکه امارت اسلامی افغانستان زمام امور کشور را به دست گرفت رهبری رادیو تلویزیون ملی بنا به ضرورت‌های این رسانه ملی و دولتی، پروسه و قرارداد واگذاری ملکیت فوق به بانک آسیایی را مورد بررسی قرارداد بعد از بررسی، علی‌رغم مواجهه با چالش‌ها زمین مذکور را از بانک انکشاف آسیایی دوباره برگشتانده و به ملکیت رادیو تلویزیون ملی ملحق ساخت.
همچنان دوازده و نیم جریب زمین از ملکیت‌های رادیو تلویزیون ملی افغانستان واقع در ساحۀ یکه توت مربوطات ناحیه نهم شهر کابل که از چندین سال بدینسو در تصرف غاصبین زمین قرار داشت، اکنون بعد از تحقیقات، اراضی متذکره ملکیت رادیو تلویزیون ملی افغانستان تثبیت گردید و به ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی افغانستان سپرده شد.

# د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د ټولو راډیويي او تلويزيوني خپرونو ارزونه

د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون رهبرۍ د خپلو خپرونو د لاښه والي په موخه د هرې خپرونې ارزونه د خپلو مسلکي کادرونو په مرسته وکړه.
د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون رهبرۍ او په ځانګړې توګه د تلویزیون مرستیال ښاغلي هدایت الله هدایت د خپرونو د ارزونې لپاره یو ډله مسلکي کسانو ته په بې پرې ډول دنده سپارلې، تر څو د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون پورې اړوند د ټولو راډیوګانو او تلوېزیوني چاینلونو خپرونې ارزیابي، نیمګړتیاوې، ښېګڼې، نوښتونه او زیانونه یې په نښه کړي. د دې ارزیابۍ لپاره د هرې خپرونې پرمخ وړونکي د خپلې خپرونې جوړښت ټولو همکارانو ته څرګندوي، موخه یې تشریح کوي، لاسته‌راوړنې یې بیانوي او د حال او راتلونکو پرمختګونو ټول پلانونه یې ورسره شریکوي. د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د دې خپرونو د ارزیابۍ لپاره د یوه مسلکي ټیم سربېره یو عام جدول هم جوړ کړی او دا ټولې خپرونې د هغه جدول له مخې ارزیابي کېږي چې په دې جدول کې د ریاست اړوند خپرونه، د نشر وخت او نېټه، د خپرونې نوم، تکرار لري او کنه، د خپرونې وخت، د اسلامي امارت پالیسۍ او تلوېزیون سره د خپرونې همغږي، د غږ کیفیت، د تصویر کیفیت، د ایډېټ ډول، د خپرونې د پیل وخت، هدف او اړتیا، خپلې موخې یا ټاکلی هدف ترلاسه کوي که نه، منځپانګه، اطرافي ده که ښاري، د کومې پوړۍ خلکو لپاره ده، په کومو ټولنیزو رسنیو کې خپرېږي، دې ته ورته بله خپرونه هم شته، پرډیوسر، ویاند، ډایرکټر، سکریپټ لیکوونکی او مېلمانه یې څوک دي، مادي او که بشري لګښت لري، په کومو ولایتونو کې باید ریلې یا نشر شي، ایا دا خپرونه ارشیف شي او که نه، دا او دې ته ورته نورو لسګونو پوښتنو ته په دې فورمه کې د انتخاب او ډکېدو ځای ورکړل شوی دی، چې د ۲۰ شاوخوا خپلواکو مسلکي کسانو لخوا ارزول کېږي او بیا هغې خپرونې ته نمرې ورکول کېږي. که چېرې خپرونه د خلکو د اړتیاوو د حل یا د افغانستان اسلامي امارت یا په ټوله کې د افغان ملت لپاره د ډېرې ګټې وړ وه، نو دا خپرونه به دوام مومي، او که نیمګړتیاوې یې درلودې، بیا په خپرونو کې د شته ستونزو د حل په موخه ورته لارښوونې کېږي او اړونده نورو همکارانو ته وړاندیز ورپېژندل کېږي تر څو د خپرونې کیفیت او ارزښت لوړ شي. د خپرونو د ارزونې کمېټه هڅه کوي، چې د خپلو ټولو خپرونو همکاران مسلکي او د ژورنالېزم له اصولو یا اوسنیو اړتیاوو سره سم عیار کړي، هغوی ته مشوره ورکړي، د ځنډونو په حل کې ورسره مرسته وکړي، غږ یې واوري او هغه توکي او د اړتیا وړ د کارولو وسایل چې دوی ورته اړتیا لري، برابر او چمتو کړي.
د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون رهبرۍ او ورسره مل همکار پلاوی هڅه کوي، چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون په ټولو خپرونو کې د نوښت په موخه بدلونونه رامنځته کړي، خپل کارکوونکي نور هم په مسلکي ډول وروزي، خپلو مسوولیتونو ته یې متوجې کړي، ستونزې یې حل کړي، نوې او

په زړه پورې داسې خپرونې جوړې کړي، چې د افغان ملت په عامه پوهاوي کې مهم رول ولوبوي، په سیاسي، اقتصادي، ادبي، کلتوري او اداري چارو کې د ولس غبر تر حکومت او د حکومت غبر تر خپل ولس ورسوي، دا په دې مانا چې د پُل حیثیت یې غوره کړی دی او د ولس او چارواکو تر منځ واټن یې لمنځه وړی دی.









# ترنم راډیو؛ ستاسو د هنري او ادبي ذوق چینه

د افغانستان ملي راډیو تلویزیون په اډانه کې د ملي راډیو، شریعت غږ راډیو، معارف راډیو سربېره اوس مهال نوې د ترنم راډیو هم جوړه شوه.
د افغانستان ملي راډیو تلویزیون په تشکیلاتي جوړښت کې ملي راډیو د هېواد، سیمې او نړۍ خبرونو ته ځانګړې شوې ده او تر څنګ یې ځیني اقتصادي، سیاسي او کلتوري مسایل هم خپروي، بل لوری شریعت غږ راډیو د اسلام سپېڅلي دین احکام، لارښوونې او اړونده مهم دیني مسایل په متواتر ډول خپروي، تر څو په دیني برخه کې عامه پوهاوي ته پوښښ ورکړي، د اورېدونکو پوښتنې مستقیم تر دیني علماوو او پوهانو ورسوي او هغوی یې ستونزې د راډیو له لارې حل کړي، شریعت غږ راډیو د اسلام سپېڅلي دین د پراختیا او له دیني اړخه د افغاني کلتور په بډاینه کې مهم رول لوبوي او ټوله منځپانګه یې د اسلام سپېڅلي دین په احکامو، لارښوونو، ښو کارونو ته د خلکو هڅونه او له بدو څخه مخنیوی او د ملي ارزښتونو په پیاوړتیا،د هېواد د ژبو، قومونو، ولایتونو او اوسېدونکو خلک یووالي ته رابلل دي، تر څو له تعصب په امان وي او نور ناوړه افکار د افغانانو تر منځ نفاق رامنځته نه کړي او د مسلمانانو تر منځ مینه، ورورولي او خواخوږي لازیاته شي.
د معارف تلویزیون تر څنګ د معارف راډیو هم کالونه کېږي د هېواد هغو بچیانو ته چې تلویزیون ته لاس‌رسی نه لري، په غرېزه بڼه د هېواد په ډېریو سیمو کې په تعلیمي برخه کې روزنه ورکوي او د هغوی د فکري شعور لپاره کار کوي. معارف راډیو چې له نوم څخه یې هویدا ده، د افغانستان په تعلیمي برخه کې فعالیت کوي او د افغانستان د معارف ټول مضامین پکې تدریسېږي. د لیک او لوست د زده‌کړو خپرونې ورته وړاندې کوي، تر څو د هېواد ټول وګړي چې تعلیمي بنسټونو ته لاسرسی لري او که نه، یا هم د زده‌کړو توان یې په کومه کچه دی، پرته له کوم توپیر په وړیا ډول د بېلابېلو پوړیو هېوادوالو لپاره ورځنۍ خپرونې لري او افغانانو ته په خپلو کورونو کې زده‌کړې ورکوي. ځیني نابینایان یا ړانده او معلول هېوادوال معارف راډیو د خپلو زده‌کړو لپاره غوره شوونځی بولي او وایي، چې په غرېزه بڼه زموږ تل پاتې نېک او ښه ملګری دی.
له دې راډیوګانو سربېره د افغانستان اسلامي امارت د مشرانو او ولس په بار بار غوښتنې د ترنم راډیو هم د افغانستان ملي راډیو تلویزیون د رهبرۍ په هڅو جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه، دغه راډیو به د هېوادوالو ادبي او هنري ذوق خړوبوي او په ورته وخت کې به د هېواد فرهنګي خوځښتونه او نوښتونه په ټول هېواد کې خپروي.نوموړې راډیو به د هېواد ځوان کهول په هنري برخه کې هڅوي، هغوی سره به مرکې کوي، د هغوی د غږونو، ترانو، حماسو، ویاړنو او قصیدو سیالۍ به په لاره اچوي، تر څو د شعر په ژبه د افغانانو فکري روزنه د اسلامي شریعت له قوانینو سره سمه وکړي. دا راډیو د افغان ولس د ادبي ذوق د خړوبولو لپاره ځانګړې شوې، چې د افغانستان

ملي راډیو تلویزیون په اډانه کې د ترنم ریاست چې هره اونۍ او میاشت د ترانو د تولید دنده په غاړه لري، دا ټولې ترانې به د لومړي ځل لپاره د ترنم په راډیو کې خپرېږي. د افغانستان ملي راډیو تلویزیون د ترنم ریاست له ترنم راډیو سره پوره او ناپایه همغږي او همکاري لري او غواړي چې په دې برخه کې نوې پنځونې تر اورېدونکو ورسوي.



د افغانستان ملي راډیو تلویزیون په اډانه کې درې تلویزیوني چاینلونه، ملي تلویزیون، ملي سپورت تلویزیون، معارف تلویزیون او په نږدې راتلونکي کې به د ملي نیوز شبکه هم جوړه شي، ورسره سم څلور راډیوګانې لکه ملي راډیو، شریعت غږ راډیو، معارف راډیو او ترنم راډیو هم په متداومه بڼه فعالې خپرونې لري.

د افغانستان ملي راډیو تلویزیون په خپلو ټولو مسلکي کادرونو ویاړي، چې د هېواد په کچه او د ملت په غوښتنه هر ډول چوپړتیاوې برابروي او د ولس خدمت یې خپله دنده بللې.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان ملي راډیو تلویزیون رهبرۍ په کمو امکاناتو د ډېرو لاسته راوړنو په لټه کې دی.

# هېوادوالو ته د لا ښې اسانتیا لپاره د پذیرش مدیریت جوړ شو

د افغانستان اسلامي امارت له خپل ولس راټوکېدلی اسلامي نظام دی او موخه يې هېوادوالو او افغانستان ته خدمت کول دي. د اسلامي امارت ټوله هڅه دا ده، چې د حکومت، ملت، ښار او کلي تر منځ واټن لمنځه یوسي او ټولې چارې د اسلام سپېڅلي دین د احکامو په عملي کولو او د اوسنی نړۍ له اړتیاوو سره سم پر مخ یوسي. د افغانستان اسلامي امارت ټول چارواکي په خپلو امارتي ادارو کې په دې تاکید کوي، چې له خپل ولس سره په ورین تندي چلند وکړي، د هغوی اړتیاوې خپلې وګڼي او پرته له ټوپیري چلنده د ټول ملت کارونه په وخت ترسره کړي.

له اداري بدلونونو سربېره په نظامي برخه کې يې هم بار بار له ولس سره په ښو اخلاقو، پرهیزګارۍ او مرستې ټینګار کړی دی، چې اوس مهال ټولو امارتي ادارو ته د ملت هر وګړی کولای شي، پرته له کوم خنډ د نورو خلکو په څېر په عادي ډول مراجعه وکړي او خپلې ستونزې له مسوول چارواکو سره شریکې کړي. د افغانستان اسلامي امارت ټوله موخه خپلو هېوادوالو ته خدمت کول دي او د ژوند په ټولو چارو، کورنیو او بهرنیو اړیکو کې د خپل هېواد ګټو ته ژمن دي.

عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوی هبة الله اخند زاده حفظه الله ټولو امارتي ادارو ته سپارښتنه کړې، چې د نظم او کارونو د ژر ترسره کېدو په موخه د مراجعینو یا مېلمنو لپاره د پذیرش ځانګړې بشري سرچینې ولري، چې له ولس سره د اداري چارو پر مخ وړولو کې مرسته وکړي، تر څو د ولس او حکومت تر منځ خواخوږي رامنځته شي او د ژوند ټولې چارې پرته له خنډ او ځنډ ترسره کړي. په همدې اساس د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون هم د مېلمنو او مراجعینو لپاره د پذیرش مدیریت جوړ کړ، چې څو مسلکي کسان پکې ګمارل شوي. دا کسان اړ دي، چې ټولو نویو راغلیو مېلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ هغوی ته لارښوونه وکړي، د داخلېدو اجازه لیک یا کارت ورکړي او د شخص ټولې ځانګړنې ځان سره د امنیتي خوندیتوب په موخه ثبت کړي او بیرته د وتلو پر مهال يې د داخلېدو کارت ورڅخه واخلي. دا کسان به د فردي مراجعینو تر څنګ د ډلهاییزو غونډو او مېلمنو د ښه راغلاست مسوولیت هم په غاړه لري، مېلمانه به ډلبندي کوي او تر لوی تالار یا اړونده ځایونو به يې ملتیا کوي.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له لوري ځانګړی یونیفرم هم جوړ شو، چې په رسمي یا هغو ورځو کې چې ملي تلوېزیون د لویو غونډو کوربه وي، دوی به دا رسمي جامې اغوندي او هر څوک کولای شي، د ملي تلوېزیون د یونیفرم د هویت درلودونکو څخه د خپلو اړتیاوو د حل، مرستې او لارښوونې په موخه پوښتنې وکړي.

د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ټول ورځني مېلمانه د رهبرۍ له دې اقدام ستاینه کوي او وايي چې دا د افغانستان اسلامي امارت د ټولو ادارو لپاره یوه مهمه برخه ده، تر څو ولس له اسلامي نظام او اسلامي نظام له ولس ځان بېل یا لیرې ونه ګڼي.

# د ملي راډیو تلوېزیون د لاښه مدیریت او د کارونو د آسانتیا په موخه د ارزیابۍ لوی آمریت جوړ پېږي.

د اداري نظم، ارزیابۍ او په رسنیو د لا ښه څار درلودلو په موخه د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون رهبري په پام کې لري، چې د ارزیابۍ یو خپلواک امریت رامنځته کړي، چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون پورې اړونده ټولو ادارو او رسنیو سربېره نورې ټولې کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ وڅاري، مهم یادښتونه یې واخلي او له اړتیا سره سم یې په وړاندې مثبت او ګټور ګامونه پورته کړي. تر دې وړاندې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون پورې اړوند د راډیو د نشراتو ارزیابۍ بېل او د تلوېزیوني شبکو لپاره بېل امریتونه وو، خو اوس مهال به دا ټول د خپلواک امریت تر چتر لاندې په ټولو برخو کې ارزیابي ترسره کوي او د هرې برخې لپاره یې مسلکي کسانو ته دنده سپارلې، چې په ځانګړو برخو کې په ټولو رسنیزو چارو پام وساتي. دا امریت به د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له رهبرۍ حکم اخلي او د هر ډول مرستې، اړتیا او لارښوونې غوښتنې به له رهبرۍ سره شریکوي. د دې امریت په اډانه کې د منېټورینګ سیستم هم ځای پر ځای کېږي او په هغه کې به د هېواد، سیمې او نړۍ ټول مهم چاپنلونه څارل کېږي، مهمې پېښې به یې یادښت کوي او د هغوی له خپرونو سره سم به د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون اړونده ریاست ته د ځواب، خپرونې جوړېدو او فعالیت په موخه دنده سپاري. د دې تر څنګ به د ملي راډیو تلوېزیون د اړیکو د همغږۍ دنده هم پرمخ وړي، که کوم وزارت یا اده تصویري، خبري، سیاسي، کلتوري، ادبي او د اقتصادي پرمختګونو، ننګونو،مرستو، ستونزو او حل لارو یا لاسته‌راوړنو پیغامونه، توکي او کلیپونه د نشر لپاره د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون ته رالېږي یا کومه غوښتنه لري، له دوی سره به یې شریکوي او دوی به یې د اداري مسوولیت له مخې له اړونده کارکوونکو او اداري سره د نورو پړاوونو په موخه شریکوي.

د ارزیابۍ امریت دا کارکوونکي به د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون پورې اړوند د ټولو ادارو د کاري چارو ظرفیت، روڼتیا او لګښتونه تحلیلوي، د دې تر څنګ به د خپرونو مالي لګښتونه هم سپړي، چې په کومه خپرونه څومره لګښت راځي، څومره د موټر تېل مصرفېږي، کوم وسایل ورته بسنه کوي، څو کسان ساحې ته ځي، ایا دا کوم لګښت چې په خپرونه کېږي، بېرته همدومره لاسته‌راوړنې لري او که نه؛ په ټوله مانا د خپرونو له منځپانګو سربېره یې د مالي امکاناتو لګښتونه هم څاري او د اصلاح، زیاتونې او یا کمونې په موخه به یې راپور د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له رهبرۍ سره شریکوي.

# ملي سپورټ د افغانستان د ورزش غږ

تېرو څو کلونو کې افغانستان د ورزش په ډګر کې بې شمېره لاسته راوړنې درلودې. افغان ځوانانو وکولای شول، چې د خپل ګران هېواد نوم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ورزش له لارې خپور کړي. په افغانستان کې د بېلابېلو ورزشي لوبو اتلان او مینوال شته، چې په ځینو ورزشي څانګو کې تر نړیوال شهرت ورسېدل. په اوسنۍ نړۍ کې د ورزشي خپرونو بازار د نړۍ په کچه ښه ګرم دی، په افغانستان کې هم بېلابېل تلویزیونونه، راډیوګانې، یوټیوب چاینلونه او چاپي رسنۍ هڅه کوي، چې سپورټي خپرونې د ځوانانو د هڅونې په موخه وکړي. د افغانستان ملي راډیو تلویزیون د هېواد په کچه اوس مهال یوازینی سپورټي چاینل لري، چې یوازې سپورټي خپرونې خپروي. د افغانستان د ملي تلویزیون (ملي سپورټ) سپورټي چاینل له تاسیس تر اوسه د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه لوی لوی ورزشي لیګونه او تورنمنټونه په ژوندۍ او ثبتي بڼه خپاره کړي دي او خپروي یې. د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون رهبرۍ تل په دې هڅه کې ده، چې د هېواد په کچه د ټولو ورزشکارانو اتلولۍ او ورزشي برنامې د ملي سپورټ چاینل له لوري په کور دننه خپرې کړي. ملي سپورټ د کریکټ د رشد او پراختیا لپاره تل هڅې کړې او د شپږیزې د دوو پرلپسې لیګونو له خپرېدو رانېولې تر اسیایي جام پورې د کریکټ مینه والو ته په عالي او ښکلې بڼه د کریکټ کورنۍ، سیمه‌ییزې او بهرنۍ لوبې وښیې او د خپلو مینه‌والو ورزشي تنده خړوبه کړې. د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره نه یوازې دا چې د ملي سپورټ چاینل فعالیتونه پراخ شوي، بلکې لاپسې ګرندي شوي هم دي. ملي سپورټ چاینل د کریکټ نه وراخوا د فوټبال ملي لوبې هم په ځلونو خپرې کړې دي او د فوټبال د مینه‌والو ناز یې هم اخیستی دی. په افغانستان کې د هر ولایت او هرې سیمې اوسیدونکي له ورزش سره مینه لري، خو دا مینه بیا په سیمه او ولایت پورې تړلې ده. په ځینو ولایتونو کې د کریکټ مینوال ډېر دي او په ځینو نورو کې بیا د فوټبال او والیبال مینه وال شته دي. ملي سپورټ د ټولو هېواد والو د ذوقونو مطابق سپورټي خپرونې چمتو او خپرې کړې دي. د افغانستان د ملي راډیو تلوېزیون رهبرۍ په دې هڅه کې ده، چې د ملي تلوېزیون ټولې خپرونې؛ نه یوازې سپورټي، بلکې هره برخه کې د هېوادوالو په خوښه نشرات تنظیم او خپاره کړي. د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د برنډینګ له برخې رانیولې د نشراتو په کیفیت کې د پام وړ بدلون راغلی دی. له نېکه مرغه د ملي تلوېزیون مسلکي رهبرۍ ژمنه ده او تل یې هڅه داده، چې ملي تلوېزیون باید د ولس او امارت تر منځ

د یو پُل حیثیت ولري. د ولس غږ تر امارته او د امارت سپارښتني تر ولسه ورسوي، چې دا سپېڅلی رسالت د افغانستان ملي تلوېزیون تر بل هر چا ښه پلی کړی دی.

اوس مهال د افغانستان ملي تلویزیون د خپلو نشراتي شبکو ملي تلویزیون، ملي سپورټ،معارف ټلوېزیون، د افغانستان ملي راډیو، شریعت غږ راډیو، معارف راډیو ، ترنم راډیو او د سوشل مېډیا له لارې په بېلابېلو برخو کې نشرات هېوادوالو ته په ایچ ډي او عالي کیفیت وړاندې کوي.



# امارت اسلامی افغانستان درصدد نابودی

# مواد مخدر



مواد مخدر به همه انواع مواد نشه آور اطلاق می‌گردد که خاصیت اعتیاد دارد، بر سیستم اعصاب تاثیر میکند و باعث ایجاد حس کاذب لذت و تغییر هوشیاری میشود مصرف کنندگان، انواع آنرا به مقاصد مختلف استفاده میکنند مصرف مکرر مواد مخدر انسان را معتاد می‌سازد و در مرور زمان به مقدار استفاده مواد افزایش میدهد در طولانی مدت اعتیاد فرد معتاد فروکش نمیکند و به مواد مخدر قوی‌تر رو میاورد.
استفاده مواد مخدر با گذشت زمان بر سیستم اعصاب و فزیک بدن انسان تاثیر منفی می گذارد فعالیت اعصاب را فلج می‌سازد، حواس انسان را تحت تاثیر آورده، سر انجام به هلاکت و نابودی انسان میانجامد، بدبختانه کشت انواع مختلف آن در افغانستان رایج بوده و سالیان سال موجودیت مواد مخدر صدمات سنگین را بر پیکر جامعه ما وارد کرده افراد زیادی از اثر استفاده مواد مخدر در کابل و ولایات کشور جان های شانرا از دست داده اند، شماری زیادی نیز باردوش جامعه شده و از طرق مختلف جامعه را متضرر ساخته‌اند.
بعد از آن که نظام امارت اسلامی افغانستان در ٢٤ اسد سال ١٤٠٠ هـ ش بر افغانستان حاکم گردید خوشبختانه مبارزه با مواد مخدر را در صدر فعالیت های خویش قرار داده تا اینکه کشت، خرید و فروش، قاچاق و استفاده مواد مخدر را ممنوع قرار داد و در این زمینه موفقیت های نیز کسب کرده است.
امارت اسلامی افغانستان در عرصه مبارزه با مواد مخدر تا اکنون خوب در خشیده است از کشت خشخاش، چرس و سایر انواع آن به وجه احسن جلوگیری نموده، خرید و فروش آنرا ممنوع و متخلفین و قاچاقچیان آن را به کیفر اعمال شان می‌رساند، همچنان برای تداوی معتادین شفاخانه‌ها اعمار نموده از شهرها و اطراف معتادین مواد مخدر را جمع آوری کرده، آنان را در کمپ‌ها و شفاخانه‌های مخصوص معتادان بستری می نماید اکنون شهروندان در شهر کابل با هیچ معتادی دست و گریبان نیستند، پل سوختهٔ کابل که مشهورترین مرکز معتادین بود مردان، زنان و کودکان معتاد خانواده های شان‌را رها کرده و در این مکان شب و روز زندگی شانرا سپری میکردند به شفاخانه‌های تداوی معتادین انتقال یافتند طبق برنامه خاص دولت هزاران تن معتاد تنها در کابل تحت تداوی قرار دارند.
امارت اسلامی توانسته است برای تداوی هزاران تن معتاد به مواد مخدر شفاخانه و کمپ فراهم نماید تا مکانی باشد برای بستری کردن و تداوی هموطنان، همچنان در این مراکز علاوه بر علاج معتادان، به آنان شب و روز غذا و ادویه توزیع می‌شود ضمناً به آنان ورزش و آموزش داده میشود بعد از دوره تداوی زمانیکه معتادان صحتمند شدند آنان را دوباره به خانواده‌های شان تسلیم می‌نمایند.
همچنان به خانواده های آنان از سوی دولت کمک صورت میگیرد، دولت در صدد آن است، به افرادی که تداوی می‌گردد زمینه کار را مساعد سازد تا دوباره به استفاده مواد مخدر رو نیاورند و در آغوش گرم خانواده های شان آبرومندانه زندگی نمایند.



# د افغان مجاهدينو د بريا او شوروي يرغلګرو د ماتې ورځ ونمانځل شوه

د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون د غونډو په تالار کې د سلواغې ۲۶مه له شوروي يرغلګرو د ماتې او د افغانسان د سرښندنو ورځ ونمانځل شوه.

د غونډې په پيل کې د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون عمومي رئيس قاري محمد يوسف احمدي ګډونوالو ته ښه راغلاست ووايه او ورپسې يې د روسي يرغلګرو د جنايتونو او وحشتونو پر وړاندې د افغان ولس او ټولو مجاهدينو له سرښندنو، قربانيو، زحمتونو او غونډې ته له راتګ منندويي وکړه. له قاري محمد يوسف احمدي وروسته د افغانستان اسلامي امارت د رياست‌الوزرا عالي مقام اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنيفي د افغانستان ملي راډيو تلوېزيون له عمومي رئيس او ټولو مسوولينو مننه وکړه، چې تل يې په رسنيز ډګر کې د افغانستان ښه استازولي کړې ده او وې ويل چې موږ بايد د افغانستان د ټولو هغو ورځو لپاره چې خلکو يې سرښندنې کړې، قرباني يې ورکړې او له خپل ولس سره پاتې شوي، په اړه يې کتابونه، مقالې او مجلې وليکوو، تر څو د افغانستان په تاريخ کې تلپاتې شي. هغه دا هم وويل چې د شوروي يرغلګرو په استعمار سره افغانان له هر ډول ستونزو سره مخ شول، د لسو کالونو په موده کې يې زرګونه عالمان په بېلابېلو ځايونو کې ژوندي تر خاورو لاندې کړل، د پوهنتون استادان او تکړه زده‌کوونکي يې په شهادت ورسول، چې د ځينو نورو افغانانو تر اوسه پورې پته نشته. په دې موده کې ډېر بنسټونه ونړېدل او د افغانستان







په ټولو سیمو کې جګړو دوام پیدا کړ، خو د دې ټولو ظلمونو په وړاندې د افغانستان مجاهد او غیور ولس د عالمانو او لویانو په قیادت له دوی سره وجنګېدل او په پایله کې یې یونیم میلیون شهیدان ورکړل او په میلیونونو نور کسان معلول، معیوب او ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شول. د افغانستان د خلکو په نه ستړې‌کېدونکو هڅو او قربانیو شوروي یرغلګر اړ شول، چې د افغانستان خاوره پرېږدي.

مولوي عبدالسلام حنيفي وويل: افغانانو د نړۍ ټولو يرغلګرو ته غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکړي، له دې سربېره انګليسانو درې ځلې د افغانستان په خاورې تېری وکړ، چې ټولې پايلې او هڅې يې ناکامې شوې. د شوروي له ماتې وروسته هيله دا وه، چې د وخت مجاهدين به راټولېږي او افغانستان به نور له بدبختيو خلاصېږي، خو د هر څه خلاف په ځينو کسانو کې د قدرت، زور او حسادت احساس راپيدا شو او ونه توانېدل، چې يو سالم مرکزي حکومت رامنځته کړي. له ګډوډو حالاتو وروسته په افغانستان کې د تجزيې عملي بڼې راپيدا شوې، ملک‌الطوايفي رامنځته شوه، د يوه ولايت خلکو بل ولايت ته سفر کولای نشو، په کابل کې له يوې ناحيې بلې ته څوک تللي نشول. په داسې وخت کې د افغانستان ملت له دې حالت بد وکړېد. په دې ډول ګډوډو حالاتو کې مرحوم اميرالمومنين د دې ظلمونو خلاف له عالمانو او مجاهدينو سره د خپلې سيمې د تصفيې لپاره راپورته شو، چې په لومړيو کې د خپلو خلکو پر مټ يې وکولای شول، خپلې سيمې له شريرو خلکو څخه پاکې کړي، بيا يې د کندهار ښار ونيو او ورو ورو يې د افغانستان په ۹۵ سلنه خاوره حاکميت پيدا کړ



د افغانستان خلک يې يو ځل بيا يووالي ته راوبلل او له ظلم څخه يې وژغورل. له لنډې مودې ورسته د افغانستان اسلامي امارت حاکم شو، چې اسلامي نظام و، د قصاص حکم وضع شو، د مخدره توکو کارول بند شول، د افغانستان ملت يووالی غوره کړ، په همدې مهال کې د غرب بلاک په مختلفو بهانو د افغانستان په خاورې يرغل وکړ او دغه هېواد يې استعمار کړ. د غرب دغه اشغال شاوخوا شل کاله دوام وکړ او هېڅ داسې ظلم نه و، چې د افغانستان په خلکو دې تحميل شوی نه وي. مدرسې، مکتبونه، د واده ځايونه، کرنيزې ځمکې او ټول ځايونه د هغوی له لوري بمبارد شول. معصوم ماشومان او بې‌ګناه ښځې په مظلومانه ډول په شهادت ورسېدل، خو بيا هم افغان غيور ملت د اميرالمومنين مرحوم ملا محمد عمر مجاهد تر قيادت لاندې په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې په دې مبارزه کې فعال ګډون درلود. د قربانيو او د ځوانانو د شهادت په پايله کې يې ماتې

ورکړه. د مدرسو او مکتبونو زده‌کړیالانو د حقې لارې په مبارزه کې په سینو پورې ټمونه وتړل او دښمنان یې لمنځه یوړل، چې دا د بشر په تاریخ کې نادرې مبارزې دي. د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزرا اداري مرستیال د خپلو خبرو په پای کې وویل چې د افغانستان خاوره به د هیڅ هېواد پر ضد ونه‌کارول شي او نه مونږ چاته اجازه ورکوو، مونږ له نړۍ سره د ښو اړیکو غوښتونکي یوو او له هغوی هم تمه لرو، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونه کړي او خپلې اړیکې ښې وساتي.

ورپسې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت سرپرست وزیر شیخ نورمحمد ثاقب غونډې ته وینا وکړه او وې ویل: شوروي اشغالگرو په افغانستان کې په زرگونه نارینه، ښځې، ماشومان او ځوانانو سربېره یې حیوانات او الوتونکي هم ووژل، په داسې حال کې چې افغانانو هیڅ‌چاته زیان رسولی نه و، خو بیا هم دوی په دې مقدسه خاوره یرغل وکړ، محترم ثاقب د سلواغې ۲۶ د افغانستان په تاریخ کې یوه د خپلواکۍ او سوکالۍ تاریخي ورځ  وبلله او وې وویل چې افغانانو په تېره یوه پېړۍ کې یې درېیو نړیوالو امپراطوریو یا قدرتونو ته ماتې ورکړه. هغه انګریزان، شوروي اتحاد او امریکا یا د ناټو ماتې نړیوالو ته شرمونکې وبللې او زیاته یې کړه، چې د دوی ټولې هڅې په دې اسلامي خاوره ناکامې وې او دي. ده له نړیوالو وغوښتل چې نور افغانان خپل ژوند او ارامۍ ته پرېږدي او په دې سره به د افغانستان سربېره په ټوله نړۍ کې د امن ژوند وي.



د غونډې په ترڅ کې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني او نورو لوړپوړو امارتي چارواکو د دې ورځې د نمانځنې ستاینه وکړه او افغان ولس ته یې د خپلو زحمتونو او قربانیو مبارکي ورکړه.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون د افغانستان اسلامي امارت یوازینۍ لویه ملي او دولتي رسنۍ ده، چې له دې وړاندې یې هم په لسګونه ورته لویې غونډې د هېواد د ابادۍ، ملت ته د پیغام ورکولو، د ځوان نسل د فکري روزنې او د اسلامي بنسټونو د پیاوړتیا په موخه نیولې او په راتلونکي کې هم پلان لري، چې د اسلامي نظام د بقا په موخه په ټول هېواد کې د خپلو مسوولیتونو په ترسره کولو کې تر ټولو مخکښه رسنۍ اوسي.

# د حضرت محمد مصطفی صَلی اللهُ علیهِ وَسَلم

# ژوندلیک
( لومړۍ برخه )

په دې برخه کې لوستی شئ
- د نبوي نسب لړۍ
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیږېدنه
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه څېره
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم لباس



## دنبوي نسب لړۍ:

رسول الله صلی الله علیه وسلم تېر د عرب په بنو اسماعیل کې د قریشو دقبیلې د هاشم له کورنۍ څخه دی، چې دنسب لړۍ یې په دې ډول ده:

محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدالمناف بن قصی بن کلاب بن کعب بن لؤی بن غالب بن فهر بن مالك بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان .

له تاریخي روایاتو څخه څرګندېږي، چې له عدنان څخه تر حضرت اسماعیل علیه السلام پورې دڅلوېښتو پلرونو واټن دی، خو په همدې منځ کې ټول نومونه ثبت شوي نه دي، ځکه عربو به په لړې لیکونو کې یوازې وتلي نومونه یادول هغه نومونه چې له عدنان څخه تر اسماعیل علیه السلام پورې ثبت شوي دا دي :

عدنان بن عدو بن المقوم بن تارح بن یثحب بن یعرب بن ثابت بن اسماعیل بن ابراهیم علیهما السلام درسول الله صلی الله علیه وسلم.

## زېږېدنه:

د وتلي مصري هیئت پوهاند محمود پاشا فلکي د ریاضي له څېړنې سره سم رسول الله صلی الله علیه وسلم دربیع الاول په نهمه نېټه د دوشنبې په ورځ چې د۵۷۱ م کال داپرېل میاشتې له شلمې نېټې سره سمون خوري زېږېدلی دی. پلار یې تر پیدایښت له مخې وفات شوی و, او عبدالمطلب وربانديې محمد نوم کېښود.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دوه درې ورځې بي بي آمنې،  بیا د ابولهب وینځې (ثوبیې) او وروسته حلیمې سعدیې تی ورکړ، دعربو دا دود و، چې خپل ماشومان به یې له ښاره دباندې ښځو ته دشیدو ورکولو لپاره ور سپارل او په دې کې دا ګټه وه، چې یو خو به ماشومانو د عربي ژبې سوچه لهجه زده کوله او بله دا چې د عربو ځانګړتیاوې به پکې راتلې. په همدې موخه به د کلیو ښځې په کال کې دوه ځله ښار ته راتلې اوماشومان به یې وړل.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پیدایښت څو ورځې وروسته د هوازن کورنۍ ښځې ښار ته راغلې، چې په دوی کې یوه هم حلیمه وه، حلیمې بل ماشوم پیدا نه کړای شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مور بي بي غوښتل، خپل زوی ورته وسپاري، حلیمې سره له دې چې د هغوی د بېوزلۍ او د ماشوم د یتیموالي له کبله د څه تمه نه درلوده، خو تر تش لاس تللو ورته ښه وبرېښېدله او ماشوم یې له ځان سره واخیست.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته دبني سعد (هوازن) په کورنۍ کې دوه کاله پاتې شو، خو کله چې حلیمې هغه ښار ته راوست، نو د (وبا) ناروغۍ ګډه وه، نو بي بي آمنې ورته وویل چې محمد صلی الله علیه وسلم بیا له ځان سره بوځه، حلیمې سعدیې ومنله او په یوه روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته تر شپږو کلونو پورې پاتې شو.

# درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه څېره

د رسول الله صلی الله علیه وسلم قد منځنی، غړي یې برابر، رنګ سور او سپین، تندی یې پلن، وروځې سره نښتې، پزه یې دنګه او لوړوالي ته مایله وه. مخ یې ډېر غوښن نه و، خوله یې څه ناڅه غټه او غاښونه یې سره بېل بېل وو. غاړه یې دنګه او سر یې غټوالي ته مایل و. سینه یې پراخه، د سر ویښتان یې نه ډېر تاو راتاو او نه بېخي نېغ نېغ وو. مبارکه ږیره یې ګڼه وه، سترګې یې تورې، بانه یې لوی او اوږده وو , وُلي یې غوښن او د اوږو هډونه یې لوی وو. په سینه مبارکه یې تر نامه پورې د ویښتانو یوه نری لیکه وه. په اوږو او لیڅو یې ویښتان وو . د لاسونو ورغوي یې غوښن او پلن وو. ځنګلې یې اوږدې او پوندې یې نازکې وې. دپښو د تلو منځ یې داسې خالي وو، چې تر لاندې به یې اوبه تېرېدلای شوې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وُلیو په منځ کې د کوترې د هګۍ په کچ د نبوت (مهر) ټاپه وه. رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډېر ګړندی ګرځېده، خبرې به یې په دمه دمه کولې، که به یې د کومې خبرې مطلب تاکیدکول و، نو هغه خبره به یې بیا بیا تکراروله. غږ یې لوړ و، د خبرو په مهال به یې اکثره وخت اسمان ته کتل. رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډېر لږ خندل او چې خندا به ورغله نو موسکی به شو.



# د رسول الله صلی الله علیه وسلم لباس

په نبوي لباس کې کومه ځانګړتیا نه وه. عام کالي یې له څادر، کمیس او لنګ څخه عبارت وو. په یوه روایت کې راغلي، چې یو پرتوګ یې اخیستی و او دا شوني ده، چې اغوستی به یې وي. ډېری مهال به یې توره پګړۍ په سر کوله. پګړۍ به یې په خولۍ برسېره تړله. خولۍ به یې ساده او ټیټه وه. شمله به یې کله (په ښۍ اوږه-ځکه خو هم کېڼ لورې ته د شملې پرېښودل له شرعي پلوه بدعت بلل شوی دی) او کله هم د ولیو په منځ کې پرته وه او کله به یې له غاړه تاووله.

یمني څادر یې ډېر خوښ و، چې هغه به کرښې درلودې، شامي عبا (چوپانه) یې هم استعمال کړې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله کله قیمتي او ښکلې جامې هم اغوستې، په رنګونو کې یې (سپین) رنګ خوښ و او سور رنګ یې نه خوښاوه .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم به ښه بوی ډېر خوښېده , د(سکته )په نوم عطر به یې ډېر کارول. رسول الله صلی الله علیه وسلم د موزو پښو کولو ډېرخوی نه درلود، خو کومې د څرمنې موزې چې نجاشي ورته رالېږلې وې، هغه یې استعمال کړې وې ,معمولا به یې څپلیو ته ورته پڼې (موچڼې) په پښو کولې.

نبوي بستر یوه څرمن وه، چې د خُرما له پاڼو څخه ډکه شوې وه او کټ یې په بوڼ اُوبدل شوی و.

د ( محمدرسول الله ) په نوم د سپینو زرو په ګوتې کې یو مهر کندل شوی و، چې د ټاپې لګولو په مهال به یې د ښي لاس په ګوته کوله. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په جنګونو کې خول او زغره هم استعمالوله. د اُحد په وتلې جګړې کې یې دوې زغرې اچولې وې.

پاتې برخه راتلونکې ګڼه کې...



مسجد شېخ زاید ابوظبی



# د ديني ارزښتونو په رڼا کې د اسلامي امارت ملاتړ

ځو لسیزې افغانستان د پردیو جګړو تنور و او په اور لمبه شو. میلیونونه خلک شهیدان شول او په لکوونو مېندې کونډې، زامن یې معلول او معیوب شول. په میلیونونه نور عام وګړي بهرنیو هېوادونو ته د امن په موخه کډوال او بې کوره شول. په زرګونه ځوانان په نشه‌یي توکو روږدي شول او تر اوسه یې له اندامونو د کم‌خونۍ ساه وځي. د هر کلي ممبر ونړول شو. د هر کور کړکۍ مرمۍ وخوړې او د هر افغان په غوږ کې د جنګ اواز ننوته او په هرې ځېرې د ویر او مظلومیت څادر خور دی. که د افغانستان تاریخ ته وکتل شي، امنیت یې خراب، فساد او زورواکي پکې عامه، پر ولس ظلم او له اسلامي مقدساتو سره پوره دښمني شوې؛ خو دې د غم خاورین تغر خپلې نورې ټولې سترپاوې زغملي، او اوس د بدلون او ښېرازۍ تر دروازې را رسېدلي یوو. د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان په تاریخ کې یوازینی حکومت دی، چې په ټول افغانستان بشپړ حاکمیت لري. اوس مهال د افغانستان په هره سیمه کې د کلي او ښار تر منځ اړیکه له منځه تللې، هر څوک چې هرې سیمې ته وغواړي، پرته له وېرې تللی او ګرځېدلی شي. اداري فساد له منځه لاړ، سرتاسري امنیت تامین دی، اقتصاد یې اسلامي دي او خپلواکۍ یې په نړۍ واله کچه نادره بنه لري. د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان له وګړو جوړ هغه اسلامي حکومت دی، چې ټول وګړي یې له همدې خاورې او ټولنې راپاڅېدلي او هیله یې نور د پردیو له وحشت، غلامۍ او جګړو څخه د ګران هېواد افغانستان خوندي ساتل دي. تر دې وړاندې د نورو حکومتونو چارواکو د خپلو شخصي ګټو لپاره د

افغانستان د وګړو، قومونو، مذهبونو او ژبو تر منځ توپیري چلند کاوه او نور خلک یې هم د خپلو موخو لپاره په دې کړکېچنه لار کې د وسایلو په توګه کارول. د افغانستان اسلامي امارت له کالونو جګړو او ستړو ورځو وروسته هغه ځای ته را ورسېد، د کوم چې مرحوم امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد یې کالونه وړاندې د ظلم په خلاف د حق د بریا تضمین ورکړی و. له دې ستړیاوو او اوږدو لارو وروسته اوس مهال د افغانستان ټول وګړي په ډاډه زړه د ژوند شپې او ورځې پرته له کومې وېرې سبا کوي. د دغه نظام ټول اصول د اسلام مبارک دین په اساس دي، چې ټولې کړنې یې په عدالت ترسره کېږي او هیچاته اجازه نه ورکوي د چا په حق کې ظلم وکړي.

اسلامي نظام په اسلامي، کلتوري او ملي ارزښتونو ولاړ یو پرېکنده نظام دی، چې ټولې چارې یې مقدسې، د قران او حدیث په رڼا کې او د افغانستان د ملت د غوښتنو او اړتیاوو په اساس دي.

اسلامي نظام د نړۍ په نورو نظامونو د باور وړ دی او د ژوند، کار او حقوقو ټول عناصر پکې شته او هېڅ ډول اخلاقي، کلتوري، سیاسي، اقتصادي او کومه بله نیمګړتیا نه لري. د افغانستان اسلامي امارت له ټولو افغانانو جوړ یو ګډ اسلامي نظام دی، چې د وګړو او چارواکو تر منځ یې مینه، وروروولي، علم، معرفت، صداقت، عزت، خپلواکي او هېواد ته خدمت یې ځانګړنې دي. دغه اسلامي نظام چې اوس مهال د ټولې نړۍ له نامشروع غوښتنو په وړاندې ولاړ دی او د اسلامي مینې زور ازمایي، دا مهال د خپل اسلامي ملت ملاتړ ته اړتیا لري.

د اسلامي نظام د ساتلو او پیاوړتیا لپاره باید حکومت او ملت دواړه هڅې وکړي، چې د کفارو او نورو شریرو خلکو څخه مسلمانان او افغانان خوندي وساتي. د دې نظام هر لاروي ته پکار ده؛ چې له ځان غوښتنې، مادهپرستۍ، فساد او تعصب څخه ځانونه وساتي او لکه څنګه یې چې کالونه پرته له امتیازه په سنګر تېر کړل، همداسې د خپلې هرې سختۍ پایله له الله تعالی څخه وغواړي او د دې دنیا په مادي امکاناتو ونه غولېږي، ځکه چې مادهپرست وګړي تل ناکام او د زړورتیا جوهر یې له سینو غورځېدلی وي. هر مجاهد او مسلمان ته پکار ده، چې اوس مهال له خپل نفس سره مجاهده وکړي، زحمت وګالي او ملي ګټو او ارزښتونو ته له شخصي ګټو لومړیتوب ورکړي. افغان ملت او عام ولس هم باید تل له اسلامي نظام سره مرسته وکړي، مجاهدینو ته یې لارښوونه وکړي او د شریرو فعالیتونو د مخنیوي لپاره، چې د عامه نظم د اخلال لامل ګرځي، له امنیتي ځواکونو سره مرسته وکړي، مشوره ورکړي، لاسنیوی او ملاتړ یې وکړي.

یو هېواد هغه وخت پرمختګ کولی شي، چې خپلواکي ولري او له مستعمرې څخه په امان وي، اوس مهال په افغانستان کې یو خپلواک اسلامي نظام حاکم دی، چې د نړۍ له ټولو جابرو او کفري نظامونو څخه په ځنګ روان دی، ځکه خو یې دښمنان ډېر دي؛ د خوشبۍ ځای دی چې افغان ملت مسلمان دی او دوی ته لازمه ده، چې د خپل هېواد له اسلامي نظام، زړورو مجاهدینو، علماءکرامو او په ټوله مانا د خپل ولس او حکومت هر ډول ملاتړ وکړي، دا د دوی دیني او ملي دنده ده. د اسلامي نظام د قایمېدو لپاره باید هڅې وشي، تر څو د ټولو مسلمانانو شرعي او مدني حقوق خوندي وي او له بېلارۍ، پردیوالي او ناوړه فکرونو څخه په امان کې وي.

# حکایتونه

## د اوښ اوښکې

په عربي نړۍ کې مشهوره ده، چې اوښ کله ناڅاپه افعي ( مار ) وخوري، خو د هغه مار تر خوړلو وروسته اوښ په خپل جسم کې د زهرو د حرارت او ګرمۍ له حس کولو وروسته سخت تږی شي، خو اوښ بیا هم اوبه ویني، د اوبو تر څنګ ولاړ وي خو اوبه نه څښي.

په دې سبب چې زهر د ده په بدن کې سرایت ونه کړي، که چېرته سرایت وکړي، نو د اوښ د مرګ سبب ګرځي، خو اوښ بیا هم په خپل ځان باندې تکلیف راولي او تر اتو ساعتونو پورې ځان تږی ساتي. تر دې چې د ده له سترګو څخه اوښکې وبهېږي او د سترګو په دننه طرف کې يې کوچنۍ کڅوړو کې ذخیره کړي.

خو دغه اوښکې د اوښ له نورو اوښکو څخه توپیر لري، ځکه چې په دې کې الله جل جلاله یو عجیبه خاصیت پیدا کړی دی، د دې اوښکو یو څاڅکی د مار د چیچلو لپاره دوا ده، دا یو حقیقي خبره ده، چې په اوس زمانه کې څرګنده شوې، خو په عربي نړۍ کې له ډېر پخوا دا خبره مشهوره وه، چې د اوښ اوښکې د مار د چیچلو لپاره تریاق دي.

نو له دې څخه د الله جل جلاله په عظیم خلقت باندې یو واضح دلیل دي، چې چا اوښ ته د دې ښودنه وکړه؟ هغه د دې اوښ خالق دی ،نو ځکه الله جلاله په خپل معزز کلام کې فرمايي:

( افلا ينظرون الى الابل كيف خلقت ) آيا تاسو اوښ ته نه ګورئ، چې الله جل جلاله څنګه پیدا کړی دی.

ژباړن: عبدالسلام حنفي

## د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) او د یوه مهاجر کیسه

حضرت ابوسعید خدري (رضي الله عنه) فرمايي، چې یو مهاجر د خپل حاجت لپاره د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره په یوازېوالي کې لیدل غوښتل، خو موقع یې ترلاسه کولای نشوه، نو یوه سهار په داسې حال کې چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر اس سپور جومات ته روان و، دغه سړي سره مخ شو، د ده مبارک د اس کېزه یې ټینګه ونیوله او عرض یې وکړ، چې ودرېږه زما له تا سره کار دی.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل صاحبه ! وخت ډېر تنګ دی، لمونځ قضا کېږي، تر لمانځه وروسته به خبرې وکړو، اوس زما د اس کېزه پرېږده،چې لاړ شم. غم مه کوه ستا حاجت به ضرور پوره شي؛ خو هغه سړي د اس کېزه ټینګه نیولې وه او ټینګار یې کاوه، چې نه دې پرېږدم، همدا اوس به زما کار راکوې، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغه په دره وواهه او لمانځه ته لاړ.

له لمانځه چې فارغ شو، نو ویې فرمایل: ما تر لمانځه مخکې یو سړی په دره وواهه، هغه څه شو؟ که چېرې دلته حاضر وي، ولاړ دې شي، شاوخوا یې کتل، چې هغه صحابي ولاړ شو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: صاحبه! ما ته نژدې راشه. هغه هم نژدې ورغی. وروسته مبارک ورته وویل: دا دره واخله له ما څخه خپله بدله واخله. هغه سړي ورته وویل، سبحان الله زه له الله جل جلاله څخه پناه غواړم، زه به د دواړو جهانو سردار څنګه وهم. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل: وروره! هېڅ خبره نه ده، ښه بې تکلیفه خپله بدله واخله، دا ستا خپل حق دی.

هغه سړي بیا هماغه خبره وکړه، چې زه دې نه وهم، بیا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ډېر ټینګار سره ورته وویل : ښه چې، په هېڅ صورت بدله نه اخلې، نو معاف مې کړه. هغه عرض وکړ یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ما معاف کړی یې. تر دې وروسته جناب رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حاضرینو ته خطاب وکړ او ویې فرمایل: ای خلکو! له الله جل جلاله څخه ووېرېږئ، پر هیچا باندې ظلم مه کوئ. که چېرې څوک پر یو چا ظلم وکړي، نو د قیامت په ورځ به الله جل جلاله هغه ته سزا ورکړي او په همدغه ورځ به مظلوم کامیابه وي.

# بې بېلګې مینه

یوه سپین ږیري سړي پوښتنه راڅخه وکړه، چې محبت (مینه) څه ده؟!
زه حیران او په فکر کې شوم، ځکه ما ویل، چې محبت داسې تشریح نه کړم چې دا بوډا راڅخه خفه شي او بې احترامي یې وشي.
بوډا سړي غږ راباندې وکړ: ځوانه! څه فکر کوې؟ ایا تر اوسه دې مینه کړې نه ده؟ ولی له مینې ناخبره یې؟!
ما په ډېر ارام ځواب ورکړ: جنابه! مینه هغه نشه ده، چې تر مئینېدو وروسته د عاشق هوش ختموي، مینه لازواله ده، هېڅ مقرر حد نه لري، د مینې د مریض درمل یوازې د خپلې معشوقې دیدن وي.
ـ مینه که له مور سره وي، نو جنت دی.
ـ مینه که له پلار سره وي، نو شفقت دی.
ـ مینه که له خور او ورور سره وي، نو سپېڅلی محبت دی.
ـ مینه که له ښوونکي سره وي، نو اخلاص دی.
ـ او که مینه د ژوند له ملګري/ ملګرې (خاوند/مېرمنې) سره وي، نو راحت او ارامي ده.
بوډا سړي راته وویل: که مینه د لایزال رب سره وي، نو بیا؟!
ما ورته وویل: که مینه له الله تعالی سره وي، نو د دنیا او آخرت کامیابي او کامراني ده.
بوډا سړي خپلو خبرو ته ادامه ورکړ او راته یې وویل: ښاغلیه! که غواړې چې مینه او محبت وپېژنې، نو څوارلس سوه او څلوېښت (۱۴۴۰) کاله وړاندې فکر وکړه او هغه وخت درياد کړه، چې د تورې شپې په نیمایي کې، چې هرې خوا ته به شپې خپل تور څادر غوړولی و، نو دی مبارک به په سجده پروت و او په ژړا ژړا به یې الله تعالی ته دا فریاد کاوه چې:
یا الله! زما أمت وبښې. یا الله! زما امت وبښې.
او د قیامت په هغه سخته لړزونکې او وېرونکې ورځ به ددۀ مبارک دغه یو غم وي چې: (أمـــتي! أمـــتي!). ما چې کله د بوډا سړي دا خبرې واورېدې، نو ټکان مې وخوړ، وجود مې په لړزه شو او له ځان سره مې وویل: رښتیا هم دې ته مینه وایي.
صلی الله علیه وسلم

# پاکي د ایمان برخه ده

انسان په زړه کې پاکي خوښوي، انسان پر فطرت او پاکۍ زړه بایلونکی موجود دی او د انسانانو ژوند پر پاکۍ او نظم ښکلی ښکاري، خو ځینې خلک تل نور ځیزونه د ځان لپاره ښکلي غواړي، خو په دې نه پوهېږي، چې باید خپله او چاپیریال یې هم ښکلی وي. د اسلام مبارک دین هم بار بار پر پاکۍ ټینګار کړی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم فرمایلي چې،( النظافة مِن الإیمان) مانا دا چې پاکي د ایمان برخه ده.

پاکي د انسان او چاپیریال لپاره ډېر لوی ارزښت لري، پاک وګړي هم خدای او هم نور انسانان خوښوي، پاکي د انسان د روغتیا ساتنه کوي او په اوسني وخت کې د سالمې روغتیا درلودل د شمتنۍ یوه غوښنه برخه ده. له مرضونو، تکلیفونو، ستونزو، اندېښنو او غربت څخه یوازینۍ مهمه لار ځان او خپل چاپیریال پاک ساتل دي. کله چې انسان پر ځېرې او باطن پاک واوسېږي، نو خدای یې ذهن هم د هغه له پاکۍ سره پاک جوړوي، چې تل به نېک او ښه کارونه ترسره کوي.

ځینې کسان کله چې د نظافت یا پاکۍ خبره اوري، فکر کوي، پاکي یوازې په پاکو او نویو جامو کې ده، خو دا تصور سم نه دی، د پاکۍ موضوع خورا پراخه ده. انسان باید له هر څه دمخه د خپلې ژبې پاکي وساتي، له نورو انسانانو سره د مخېدو په وخت دې خپل الفاظ کابو کړي، سم او خواږه کلمات دې پر ژبه راوړي، د غوصې په وخت دې زغم ولري، د تېروتنو په لیدو دې د پېښې علت وپوښتي. موږ ټول انسانان یوو، په هره دقیقه کې موږ ته شیطان دوکه راکولی شي، فکر مو خرابېدی شي، خو غوره کسان هغه دي، چې خلک یې له ژبې او ضرر څخه په امان وي. د انسان جامې د پاکۍ بله برخه ده، هغه انسانان تل په ټولنه کې ارزښت لري، چې پاکې او ښکلې جامې اغوندي، ټولنه او ژوند پرې ښکلی ښکاري، هر څوک غواړي یو ښکلی او منظم انسان یې ملګری واوسي، د هر انسان سترګې پرې خوږې شي او پاک انسان په پاک ځای کې له پاک زړه سره ووینې.

پاکوالي ته پاملرنه د هر انسان دیني او کلتوري دنده ده. د خپل چاپیریال پاکه ساتنه هم د انسان په شخصیت اغېز لري، که چېرې تاسو په سم، پاک او ښکلي ځای کې خواږه خورئ، معلومه ده







چې ډېر خوند به ورڅخه اخلئ، زموږ او ستاسو مسوولیت یوازې د خپلې خونې او کور پاکوالی نه دی، بلکې د خپل هېواد په هره څنډه کې چې چټلي وینوو، باید پاکه یې کړو او نور انسانان یې له ضرر څخه وژغورو. تاسو ته معلومه ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس لپاره په سنتو کې تاکید کړی دی، چې تاسو خدای ته په پاکو جامو، پاک ځای او پاک بدن ودرېږئ. پاکوالی نه یوازې زموږ دیني دنده ده، بلکې زموږ ځاني مسوولیت هم دی، چې باید خپل ځان له خپل بدنه راضي او خوښ وساتوو. پاکي انسان ته ذهني او روحي سکون ورکوي او د انسان باور په ځان لوړوي او برعکس که چېرې تاسو د پاکۍ خیال ونه ساتئ، خپگان به مو ډېر شي، له ټولنې به لیرې شئ، له خلکو به ویرېږئ، پر ځان به باور له لاسه ورکړی وي، خپله وړتیا به مو په خپل بدن کې خاورې شي، ناهیلي به شئ، له ژونده به خوند اخیستی نه شئ. شخړې او ستونزې به مو ډېرې شي، فکري توازن به له لاسه ورکړئ او هم به مو ځان، هم کورنۍ او هم به د ټولنې وګړي ستاسو له چلند ناخوښ وي ،نو هېڅکله په خپلو کارونو کې سستي مه کوئ او خپل بدن له وجداني عذاب وژغورئ.

د ښه بدن او ښکلي ټولنیز شخصیت درلودو لپاره تاسو اړ یاست چې لاندې کارونه پر وخت عملي کړئ.

۱ - هره ورځ یا په دوو ورځو کې ځان ومینځئ، تر څو بدن مو د خولو بدبویي ونه کړي او پاک ښکاره شئ.

۲- تل پاک خواړه وخورئ، د هغو خوړو له خوړلو ډډه وکړئ، چې د حشراتو، الوتونکو له ځالو او ځایونو سره نږدې وي، تر څو له ناروغیو څخه په امان شئ او د چټلو خوړو له امله مو مېکروبونه بدن ته داخل نه شي.

۳- خپله خونه، کور او د اوسېدو ځای مو تل پاک ساتئ او هره ورځ مو د خځلدانۍ توکي بهر په یوه مناسب ځای کې خالي کړئ، چې ښاروالي او یا نور ټاکل شوي کسان یې لیرې یوسي، که چېرې په یوه ځای کې چټلي تر ډېرې مودې پاتې شي، هلته چینجي او نور خځنده حشرات پیدا کېږي او له هغه ځایه بیا ټول نږدې چاپېریال ته خوځېږي، چې ټولیزه روغتیا لمنځه وړي.

۴- د خپلې ناستې ځای، دفتر، خونې، دوکان، موټر او د سړک پاکوالي ته پاملرنه وکړئ. هېڅکله پکې اضافي شیان مه پرېږدئ، تر خپل ځای یې یوسئ، که مو بل څوک هم ووینې، نو له تاسو به زړه‌کړه وکړي او هر څه منظم پر خپل ځای کېږدئ.

۵- د هر بریالي کس یو مهم راز پاک اوسېدل دي. تاسو وګورئ د هر ډول خلکو او هر ډول سیمې لومړۍ بریا د هغوی پاکي ده، ځکه پاکي انسان ته دا وړتیا ورکوي، تر څو له نورو انسانانو بېل واوسي او ځانګړی ژوند ولري.

۶- د خپل ښار او هېواد د پاکوالي په برخه کې تر خپل توان ډېره مرسته وکړئ، د ښار پاکوالی نورو خلکو ته زموږ د مدنیت او ژوند روښانه تعریف دی.

۷- د خپلو الفاظو، سترګو، زړه او بدن پاکوالي



ته مو پام وکړئ، الله ج هغه کسان نه خوښوي، چې په ظاهر پاک او زړونه یې خیرن وي، له نورو مسلمانانو سره دښمني، بغاوت او عداوت کوي، د خپلو شخصي ګټو لپاره د دین احکام، ټولنیزې او ملي ګټې له پامه غورځوي، تل سپک او پوچ الفاظ کاروي، ملګري، ګاونډیان او همکاران ورڅخه ناخوښ وي، بلکې هغه کسان چې د ژوند موخه یې یوه مسلمان ته خوږه موسکا ورکول وي او تل خوږې او له پند ډکې خبرې، چې خلک ورڅخه څه زده‌کوي، خوښوي. په دې سره به د خبرو اترو پاکي هم ساتل شوې وي او نور خلک به هم له خپلو الفاظو سره پام کوي. د خپلو سترګو ساتنه وکړئ، د سترګو پاکي په مطالعې او قرانکریم لوستلو کې ده، د ناوړه څیزونو لیدل پرې ناپاکي ده، دې ته ورته د خپل زړه ساتنه د انسان پر ټولو حواسو لوړه ده، که چیرې د انسان په بدن کې دا وړه ټوټه اصلاح شي نو د انسان ټول عملونه به ورسره سم شي، که چیرې دا ټوټه بې لارې شي، د انسان د بدن ټول خوځنده او فعال غړي به ورسره د بې لارې په لور لاړ شي. د زړه پاکوالی په اخلاقو، پرهیزګارۍ، له ریا او غرور څخه په ځان ساتنې او له ناوړه او چټلو فکرونو څخه د خلاصون محوردی.

د پاکوالي په اړه نورې ګڼې لارې شته، چې انسان یې په پام کې نیولو سره کولای شي، خپل ژوند داسې عیار کړي، چې ځان، کورنۍ او هم ټولنه له تاسو خوښه او سوکاله وي. سوکالي او امن د انسانانو په پاکوالي کې دی، څومره چې پاکي د ځاني روغتیا لپاره اړینه ده، له هغې ډېره د ټولنې د روښانه راتلونکي لپاره مهمه ده. له خپل هېواد، خپلو خلکو، خپل کار او ورځني ژوند سره مینه زموږ ټولنه د نېکمرغۍ په لور سوق کوي او هېواد ته مو دايمي خوښي راوړي. دا زموږ د ټولو مسوولیت دی، چې د خپل ځان، کورنۍ، ټولنې او ښار پاکوالي ته پام وکړو، که څوک پرې نه پوهېدل، پوه یې کړو، د هوا د ککړتیا له زیانونو یې خبر او له هغو ټولو ناوړه عملونو یې راوګرځوو، چې اسلامي ټولنه د خپلو شخصي ګټو لپاره د بربادۍ خواته وړي.




# سالنگ

## او د هیواوالو خوښي

د هندوکش د مرکزي غرونو په لمن کې له اوبو څخه د ۳۹۵۰ متره په لوړوالي د سالنګ تاریخي تونل دی، چې ۲۷۰۰ متره اوږدوالی لري او د افغانستان شمال له جنوب سره وصلوي.

مخکې د افغانستان د شمال او جنوب تر منځ لاره کې ډېر خنډونه او ستونزې وې، چې د حل لپاره يې د امیر شېرعلي خان له سلطنت وروسته د دې لارې د وصلېدو او نږدې کېدو لپاره د تونل جوړولو فکر پیدا شو. له ۱۳۰۲ څخه تر ۱۳۰۸ هجري شمسي پورې امیرحبیب الله خان وغوښتل تر څو د شېبر له لارې شمالي سالنګ له جنوبي سالنګ سره وصل کړي. د دې لارې د جوړېدو بیه ۴۰زره اشرافي طلايي سکې وې. د دې لارې جوړېدل په هغه وخت کې د افغانستان د ځواکونو له لوري د عبدالغیاث تر امر لاندې پای ته ورسېدې. دغې لارې وکولای شول، چې تر یوې کچې د افغانستان د دولت او خلکو ځینې ستونزې حل کړي، خو بیا یې هم درې اساسي ستونزې لرلې؛ لومړی دا چې دا لاره قیر شوې نه وه، دویمه دا چې د لارې اوږدوالی ډېر و، او دریيم دا چې په ژمي کې د واورې اورېدو له امله به دا لاره تل تړل کېده.

په دې اساس دا لاره ونه توانېده، چې د خلکو د اساسي ستونزو د حل لامل وګرځي، تر دې چې د افغانستان د وخت حکومت د سالنګ د لارې سړکونه ورغول، چې پکې ۲،۷ کیلو متره تونل موجود و، دغه سړک د افغانستان د شمال د خلکو لنډه لاره وه، چې له مرکز سره پرې وصلېدل. خو له وخت سره په تېرېدو او د داخلي جګړو په لړ کې دا سړکونه پوره زیانمن شول او سالنګونه تر کیلو مترو ونو پورې لمنځه یوړل شول.

په ۱۳۸۱ هـ.ش کال کې د نړیوال بانک په بودیجې د سالنګ د بیارغونې چارې پیل شوې، چې د پراخ اداري او مالي فساد له امله دغه پروژه په سمه توګه بشپړه نشوه، ځکه خو يې چارې همداسې نیمګړې پاتې شوې. د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو او د نړیوالو له بندیزونو سره سره د سالنګ د لارې په جوړېدو چټک کار پیل شو او په لنډه موده کې یې د دغې تاریخي لارې ټولې چارې په معیاري ډول بشپړې کړې، چې اوس مهال د هېوادوالو د تګ راتګ لپاره پرانیستې ده.

د دغه پراخ تاریخي کانال د بیاجوړونې په لړ کې د افغانستان اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو د سالنګ کاري چارې له نږدې څارلي دي.



## کوچه های شهر کابل؛ خالی از گدایی‌گران

گدایی گری‌یکی از پیشه‌های نامناسب درآمد و منبع عایداتی در افغانستان شمرده میشود که معمولا افراد معلول، معیوب، نادار، بی سپرست، بیوه زنان، کودکان یتیم و در کل همه افرادی که توانایی کار راندارند دست به گدایگری میزنند، در کنار آن افرادی هم استند که از این جماعت نیستند، از روی عادت کاری دیگری نمیکنند و در مکان های عامه و نکات پر ازدحام شهرهای افغانستان به مردم دست خیر طلبی دراز میکنند.

عمل خیرطلبی یا گدایی‌گری در افغانستان از سالیان سال میان مردم وجود داشته در ادوار و دولت های مختلف در مورد گدایی‌گران پالیسی هایی وجود داشته در دوره قبلی گدایی‌گران زیادی در شهر، کوچه و پس کوچه‌های کشور به انواع و بهانه های مختلف دست به خیر طلبی دراز میکردند، قبل از آن که دولت امارت اسلامی در افغانستان حاکم گردد هزاران تن از گدایی‌گران تنها در کابل حضور داشتند که از سوی دولت وقت برای بهبود زندگی آنان برنامه و تصمیم روی دست گرفته نشده بود.

با موفقیت جهاد مردم در افغانستان و حاکمیت نظام کنونی (امارت اسلامی افغانستان) ضمن سایر بخش ها در رابطه به وضعیت ناگوار زندگی گدایگران ازسوی دولت تصامیم اتخاذ گردید، برای فراهم آوری سهولت های زندگی به کودکان خیر طلب و افراد بی بضاعت برنامه‌های مختلف روی دست گرفته شد از هر گوشه و کنار شهر کابل و ولایات هزاران گدایگر از سوی دولت جمع آوری شده ثبت و راجستر گردیدند، برای کودکان بی خانمان سرپناهی مدنظر گرفته شد و در دارالایتام ها جابجا گردیدند تا در آن بود و باش نمایند، زمینه آموزش و پرورش به آنان فراهم گردید برای گدایی‌گران بزرگ سال معاش ماهوار تعیین گردید و در بانک ها برای شان حساب باز گردید اکنون گدایی‌گران در دولت ثبت نام شده و هرماه از طریق بانک معاش بدست میاورند.

# کابل ښاروالۍ او پراخ بدلون







د کلي، کور او ښار د چاپیریال ساتنه د هر انسان دنده ده، خو د خلکو تر څنګ دولت هم کوښښ کوي، چې د سیمې په کچه د خپلو ښارونو پاکوالي ته پاملرنه وکړي. د چاپیریال ساتنې او د ککړې هوا څخه د مخنیوي لپاره د ټولو ولایتونو د ښاروالۍ کارونه د ستایلو دي، خو د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د کابل ښاروالۍ پراخ مثبت بدلون وکړ. کابل چې د افغانستان له مرکزي ګڼ نفوسه ولایتونو څخه مهم ولایت ګڼل کېږي، ښاروالۍ یې وکولای شول، چې د هېوادوالو د خوندیتوب لپاره چټک ګامونه پورته کړي او د خلکو په زړونو کې ځای پیدا کړي. کابل ښاروالۍ په خپل جوړښت کې ګڼ اداري تشکیلات لري، چې هره برخه یې د ورسپارل شوې دندې په برخه کې کار ترسره کوي. د کابل اوسېدونکي له ښاروالۍ خوښ دي او وایي چې کارونه او چوپړتیاوې یې د ستایلو دي.

کابل ښار چې د نړۍ په چټلو ښارونو کې یې ځای درلود او اوسېدونکو یې له هوا، خوړو او اوبو څخه تل شکایت کاوه، له نېکهمرغه اوس دا ټولې ستونزې د کابل ښاروالۍ واورېدې او په خپل وخت یې د حل لپاره ګړندي ګامونه پورته کړل. د کابل ښاروالۍ له خپلو نورو کارونو سره د بیارغونې برخه کې هم لویې لاستهراوړنې لري، چې له ډلې یې هغه سړکونه یادولی شوو، چې یا نوي ورغول شول، یا هم کوم سړکونه چې مخکې یې درزونه موندلي وو، بیا له سره قیر شول او هغه پلونه چې نړول شوي وو، بیا یې ورغول او لا هم په دې برخه کې عملي کارونه دوام لري. کابل ښاروالۍ په ځینو ناحیو او سیمو کې د لارښوونې په موخه بینرونه لګولي، چې په مرسته یې کابل ښاریان کولی شي، د ځایونو او سیمو په واټن او نومونو پوه شي. که له بل لوري وګورو د کابل ښاروالۍ په دې وروستیو کې ځینې نوي پارکونه جوړ کړل او چارې یې په منظم ډول د ټاکل شویو کسانو لخوا څارل کېږي. د کابل ښاروالۍ هغه کارونه نه هېرېدونکي دي، چې په دې وروستیو کې یې ترسره کړل، لکه د څلور لارو رغونه، چې په کم لګښت یې د ښار ښکلا پرې څو چنده ډېره

کړه. کابل ښاروالۍ د کابل د اوسېدونکو د خوندیتوب لپاره، چې له ناروغیو وساتل شي، کوښښ کوي د مرکز ګرمۍ د لوګي د تصفیې له فلټر او هغه موټرونه چې په بازار کې دود خپروي، پر وخت څارنه وکړي، تر څو هوا له ککړتیا وژغورل شي او د ښار اوسېدونکي یې په پاکه هوا، زرغون چاپېریال او ښکلي فطرت کې د ژوند ورځې په خوښۍ سبا کړي. د کابل ښاروالۍ په اډانه کې د نرخونو د کنټرول او له احتکار څخه د مخنیوي کمېسیون هره اونۍ د لومړنیو خوراکي توکو او اړتیا څارنه کوي او د بازار له اړتیا سره سم هره څه ته بیه (نرخنامه) ټاکي او هغه د ښار تر هر دوکان رسوي، چې دا کار د ټولو هغو خلکو مخه نیسي، چې د ښار بې نظمۍ او خپلو شخصي ګټو ته په تمه ناست دي. نن سبا کابل ښاروالۍ د افغان ولس د زړه هغه خبرې عملي کوي، چې خلکو یې پر خوله د ویلو توان نه درلود. په روغتیایي برخه کې هره ورځ له اومه غوښې، د هوا له ککړتیا، له دوکانونو څارنه، د تېر وخته توکو راټولونه، د هوټلونو او نورو پخلنځایونو له پاکۍ څخه ډاډ ترلاسه کول یې مهمې لاسته‌راوړنې بلل کېږي، چې ځلا یې د هر افغان په سترګو کې له ورایه ښکاری. ټولو هېوادوالو ته معلومه ده، چې د پل سوخته پل رغونه د هېوادوالو تر څنګ د نړۍ والو د هرکلي وړ وګرځېده، د کابل د سیند له خځلو او چټلیو پاکول او منظمې غرفې جوړول د ښاروالۍ له هغو فعالیتونو څخه شمېرل کېږي، چې د کابل ټول اوسېدونکي یې له خدماتو خوښ دي. کابل ښاروالۍ تل د چاپېریال په زرغونېدو کې خپل مهم مرکزي رول لوبولی او کابل یې خپل کور ګڼلی دی، په همدې موخه یې تل نورو خلکو ته هم عامه پوهاوی ورکړی دی، چې له دوی سره همکار اوسېږي، تر څو له راغلي امنیت سره په پاک او ښکلي چاپېریال کې د ژوند د خوښۍ ورځې سبا کړي. د یادونې وړ بولم، چې کابل ښاروالۍ د ښاریانو ستونزو او شکایتونو ته د رسېدنې په موخه ۱۵۵ شمېره بیا فعاله کړه، تاسو او نور ټول کابل ښاریان کولی شئ، له کابل ښاروالۍ سره په دې شمېرې مستقیمه اړیکه ونیسئ او خپلې غوښتنې او نظریات مو له هغوی سره شریک کړئ.









# میله دهقان و سی ومین نمایشگاه بهاری محصولات زراعتی برگزار گردید

تجلیل از میله دهقان در افغانستان مروج است که همه ساله تجلیل می‌گردد وزارت زراعت ومالداری افغانستان که برای تقویت دهاقین و صنعت کاران هر سال به همین مناسبت در دو فصل سال (بهار و خزان) نمایشگاه محصولات افغانستان را در بادام باغ کابل برگزار می‌کند، سال روان نیز این نمایشگاه از مورخ ۱۲ ثور الی ۱۵ ثور از سوی وزارت زراعت ومالداری به مدت چهار روز راه اندازی گردید.

در این نمایشگاه اقشار مختلف مردم از نکات گوناگون کشوراشتراک کردند، اشتراک کننده گان این نمایشگاه در بادام باغ کابل گرد هم آمدند و محصولات خویش را برای بازدید کننده گان داخلی و خارجی به نمایش گذاشتند.

وزارت زراعت جهت فراهم کردن بازار فروش برای محصولات دهاقین، زارعین، مالداران، صنعت کاران و همه تولیدکننده گان افغانستان در نظر دارد تا محصولات افغانستان بازار ملی و بین المللی داشته باشد به همین ملحوظ برای برگزاری نمایشگاه محصولات کشور مکان خاصی را در بادام باغ کابل فراهم کرده است و همه ساله نمایشگاه بهاری و خزانی در همین مکان برگزار میشود، این جا با جابجایی غرفه‌ها برای فروش یک بازار را تشکیل دادند درضمن برای خانم‌ها نیز مکان مناسبی در نظر گرفته شده است، هنگام برگزاری نمایشگاه هرکس با پرداخت کرایه مشخص به وزارت زراعت و مالداری، میتواند غرفهٔ را کرایه نماید و محصولات خود را به نمایش بگذارد.

تجاران و تولیدکننده گان در این نمایشگاه میتواند به تولیدات خود بازاریابی نماید خوشبختانه سال جاری هم نماینده گان شرکت های خصوصی، نهاد های ملی و بین المللی، دهاقین و صنعت کاران بخش های مختلف در نمایشگاه اشتراک کردند دراین بازار موقتی انواع مختلف وسایل کشت وکار، عسل، قالین، پوست قره قل، روغن های کنجد، چهارمغز، زغر و ...، میوهای خشک و تازه، زعفران، لوازم زینتی برای منازل مسکونی که از چوب و سنگ ساخته شده و سایر تولیدات وطن به نمایش گذاشته شد.

همچنان توسط نماینده گان بخش های مختلف وزارت زراعت و مالداری افغانستان تخم های اصلاح شدهٔ حبوبات، سبزیجات، درختان مثمر و غیر مثمر که در افغانستان تجربه شده و حاصل خوب داده است جهت ترویج به نمایش گذاشته شد، علاوه بر آن شماری حشرات مفید و مضر و مواردی هم در پیوند به امراض نباتات و حیوانات جهت آگاهی دست اندرکاران زراعت به نمایش گذاشته شد.

زنان نیز در این نمایشگاه سهم فعال داشتند، تعداد زیادی از زنان صنعت کار و تجارت پیشه صنایع دستی، جواهرات، لباس زنانه و مردانه، لباس‌های دست دوزی شده، مربا، ترشی باب و سایر محصولات شانرا به نمایش گذاشتند.

همچنان شرکت کننده گان به این نمایشگاه خوشبین استند که ارتباطات شان با تجاران و افراد زیادی آشنا شده که در صنعت و تجارت برای شان موثر واقع میشود و با برگزاری چنین گردهمایی‌ها صنعت در کشور رونق می‌گیرد به همین دلیل است که با علاقه مندی در همچو نمایشگاه‌ها سهم میگیرند.

# ضعف تالیف

په ادبي اثارو او په ځانګړي ډول په شعر کې کلمات او مانا خپل مسوولیتونه لري؟ داسې نه ده، چې مانا او مضمون په تورو کې بیان شي او کوم مسوولیت دې ورته متوجې نه وي. په شعر کې کلمې او ماناوې بېخي زیات مسوولیتونه لري. په دې مانا؛ که چېرې دوی کوم بیان ښکاره کوي، باید د ضعف تالیف خیال وساتي.

ضعف تالیف په دې مانا دی، چې موږ باید د الفاظو، ترکیبونو او تورو د ترکیب او راتګ مسوولیتونه وپېژنوو. یانې ضعف تالیف په مانا کې له هغو پېښېدونکو کلمو، ترکیبونو او تورو څخه رامنځته کېږي، چې استعمال یې نادرست شوی وي او یا د غیر شاعرانه الفاظو، توارد، د کلماتو تنافر، کراهت، لفظي غرابت، ناموزنیت، د ردیف عیب، په تکلف سره د کلمو استعمال، د تورو تنافر او سرقه رامنځته شوي وي. کله چې په شعر کې پورتني توکي رامنځته شول، نو په کلام کې ضعف تالیف رامنځته شو.

په ادبي لحاظ کله، چې یوه کلمه د ګرامري اصولو سره مخالفه استعمال شوه، دا په کلام کې د فصاحت له عیبونو څخه شمېرل کېږي. ډېر وختونه، هغه څه چې د لیکوالۍ او شاعرۍ د کمزورتیا لامل کېږي، په نامناسب ځای کې د کلمو ځای پر ځای کول دي.

تالیف د ګرامري قواعدو پر بنسټ د کلمو یو ځای کول دي. که دا قواعد په لیکوالۍ کې مراعت شي، نو له ضعف تالیف څخه مو ځان وساته او که چېرې ګرامري ستونزې په کلام کې وي او د ژبې قواعد مراعت نه شي، نو په کلام کې ضعف تالیف رامنځته کېږي. یانې په جمله کې ګرامري تېروتنې د نحوې کار دی، خو په مانا کې تېروتنې ضعف تالیف رامنځته کوي او دا د شعر د ژبپوهنې یو ستر باب دی، چې اصلي او دقیقه مطالعه یې په معاني کې کېږي.

معاني په شعر کې د کلمو، تورو او ترکیبونو د ماناو په اړیکو بحث کوي، چې په بیان کې فصاحت او په مانا کې بلاغت رامنځته کوي. کله چې په شعر کې دغه پورته د اهمو توکو تعادل مات شي، نو په شعر کې ضعف تالیف رامنځته کېږي.

ځینې مهال شاعران د وزنونو لپاره او یا د غزل د بیتونو د پوره کولو لپاره د شعر په لیکلو کې تادي وکړي او ضعف تالیف رامنځته کړي. اوس‌مهال یو زیات شمېر شاعران د دغې بدۍ سره مخ دي، نو کله کله د وزن د برابرۍ لپاره ځینې شاعرانه مفاهیم له لاسه ورکړي. او یا د قافیې او ردیف د پوره کولو لپاره په شعر کې د الهام او تخیل کیفیت ورک کړي.

شاعران باید د دغه نادرست عمل سره مبارزه وکړي او د مبارزې یوازینۍ لاره دقیقه مطالعه ده. کله چې د شاعر د زیاتې مطالعې ریاضت ختم شي، نو هغوی بیا خبرې او مفاهیم داسې وړاندې کوي، چې د الهام کیفیت پکې نه خاورې کېږي.

اصل کې شعر د ژبې له ګرامري قواعدو بهر دی، خو که چېرې د معاني قواعد په شعر کې مات شي، نو ضعف تالیف به رامنځته شي. یانې کله کله ګرامري قواعد دومره مهم شي، که مراعت نه شي، نو په شعر کې به کراهت رامنځته شي.

د شعر لپاره خپل ژانرونه دي، که په يوه ژانر کې د هم هغه ژانر مهم خواص و نه ساتل شي، نو په شعر کې به ضعف تاليف رامنځته شي. يانې د ضعف تاليف په مخنيوي کې هم مانا او هم الفاظ مسوولیتونه لري، چې بايد وپېژندل شي. که چېرته زه اوس د ځينو شاعرانو مثالونه راوړم، نو شايد دوی زيات خپه شي، ځکه په کوم کلام کې چې ضعف تاليف وي، هغه شعر نه دی او نه ورته سم تخليق ويلای شوو،خو مثالونه يې ضرور دي او موږ يې د ځينو شاعرانو را وړو.

د سلاست او موسيقۍ معيار دا نه دی، چې يوازي دې عام فهمه مانا ولري. سلاست او موسيقي هغه وخت په غزل کې را تلای شي، چې د مسرو ترمنځ مانيز تړاو ته متوجې شو او يا د داسې کلمو، د استعمال قدرت ولرو، چې ضعف تاليف و نه لري. د مثال په توګه: اشرف خان هجري د ميرزاخان انصاري په ستاينه کې ويلي دي:

تـکلف پـه داکې نشـته باور وکـړه
په دا فن کې يې ګوی وړی له يو هر دی
(اشرف خان هجري)

په پورته بيت کې د ژبې او محاورې جوړښت تغير کړی دی. په ځای ددې چې ليکل شوي وای (هر يو دی.) نو( يو هر دی) ليکل شوي دي. چې په معاني کې ورته د قياس مخالفت وايي، همدې د سلاست او موسيقي مخه ډب کړې ده او په بيت کې يې ضعف تاليف رامنځته کړی دی. دا چې پورتنۍ کلمې سره ناانډوله دي، نو د موسيقۍ او سلاست مخه همدې ډب کړې ده.

د نه مانيز تړاو او د کلمو نه انډول يا د تناسب نه شتون د بيت په داخلي جوړښت کې ضعف تاليف را ولاړوي. د مثال په توګه د استاد رحمت الله حکيمي دا بيت ګورو:

يوه شـپه چې مينه او رڼا غاړه غړۍ وي
هغه دم به ښکلا او پکتيکا غاړه غړۍ وي
(رحمت الله حکيمي)

په پورتني بيت کې مينه او رڼا متناسبه خبره نه ده؛ بلکې که مينه او ښکلا غاړه غړۍ وای، نو له يوې مخې به يو څه تناسب پيدا شوای وای او بل به په بيت کې حسن تاليف رامنځته شوای وای.

موږ د مرحوم پسرلي صيب دا بيت لولوو:

حسـن بـه ساه وبولو جند يي مـينه
ښايست وي پټ، خو کړي څرګند يې مينه
(محمد صديق پسرلی)

د پسرلي صيب شعر د مانيز تسلسل په لحاظ احسن تاليف دی، خو د حکيمي صيب شعر ضعف تاليف دی او دوهمه مسره خو يې هېڅ تړاو ورسره نه لري، چې په معاني کې لفظي غرابت ورته ويل کېږي.

ضعف تالیف هغه وخت رامنځته کېږي، چې کله شاعر یو مضمون سم ادا نه شي کړای. د مثال په توګه یو مضمون یو شاعر غواړي، چې انځور یې کړي؛ خو هماغه شان یې حق ادا نه شي کړای. دغه د حق نه ادا کوونه، د لفظونو سکښت، د نا انډوله کلمو پیوند یا د انډول شویو کلمو، نه تناسب دی. د مثال په توګه د اجمل ښکلي دغه بیت چې وایې :

شپېه مـې وشوله چې کور ته مې راورسېدم
بـېرته روان یمه ســـامان راټـولوم لګیایم
(اجمل ښکلی)

دا مضمون ریاض تسنیم داسې ادا کړی دی:

خلکو کډې ګـرځول له ما نه زده کړئ
پـه اوږو بـاندې مې زوږ د کـور سامان شه
(ریاض تسنیم)

په پورتنیو بیتونو کې د مضمون یوالی یو دی، چې هغه د سرګردانۍ مضمون دی، خو د ریاض تسنیم بیت د اجمل ښکلي د بیت څخه زیات احسن تالیف دی. هغه په دې وجه چې، د اجمل ښکلي متناسبې کلمې دوې دي او بله خبره د ( شپېه) او (رسېدلو) انډول د کور او سامان سره، تر( کډه ګرځولو) او ( زوږ) ډېر نا انډوله دی. همدا شان د ریاض تسنیم متناسبې کلمې درې دي. کډه، کور، سامان او د (کډه ګرځولو) او ( زوږ) انډول له متناسبو کلمو سره ډېر جذباتي دی، نسبت (رسېدلو) او (شپېه) ته، نو په دې لحاظ د ریاض تسنیم بیت کې احسن تالیف له ښکلي څخه ډېر غښتلی او مانیز تړاو یې زیات دی.
یانې که چېرته د عدد او معدود، صفت او موصوف، د فعل، مفعول او فاعل صنفي خواصو استعمال درست را نه شي، نو په کلام کې ضعف تالیف رامنځته کېږي، چې دې ته په معاني کې د قیاس مخالفت ویل کېږي.
زموږ یو شمېر شاعران دغو اصولو ته پام نه کوي او دوی باید پر دې پوه شي، ځکه چې دا د شعر ډېرې لویې غلطۍ دي. دوی به احسن تالیف هېڅ وخت رامنځته نه کړای شي، تر څو چې په دغو ټولو غلطیو باندې پوه نه شي. زموږ زیاتره شاعرانو ته دا ډول غلطۍ هېڅ نه ښکاري او خپل ځان ورته استاد شاعر ښکاري، خو استاده شاعري دومره وړه خبره نه ده، چې په لږ ریاضت دې رامنځته شي.
یانې که چېرې مفعول د فاعل سره، عدد د معدود سره، عرض د غرض سره، تشبیه د شباهت سره، دال د مدلول سره، ترکیب د مرکب سره او مانا د لفظ سره په تناسب کې رانه شي، نو په شعر کې به ضعف تالیف رامنځته شي.

یانې که چېرته په نوښت او تجربې کې نوی‌والی نه وي، د مطالبې ژبه نوې نه وي، د تورو ترمنځ غریز تسلسل نه وي مراعت شوی، بیا هغه د غالب صېب خبره، ((چې شاعري قافیه پیمایي نه ده،)) نو شعر به یې له ضعف تالیف څخه خالي نه وي.

دا پورته هغه درسونه دي، چې په کلام کې فصاحت او په مانا کې بلاغت رامنځته کوي.

زموږ اکاډمیکې ساحې باید زده کوونکو ته په دغو پورته توکو تیزیس او مونوګراف لیکلو لاربښونه وکړي، تر څو دا پورته پټې غلطۍ، چې زموږ زیات شمېر ادیبان او شاعران ور سره مخ دي، له منځه لاړې شي.

زه فکر کوم، چې په ادبي حلقو کې، چې کوم شاعران ګڼل کېږي، هغه په عامه سطحه مطرح نه دي او نه دومره لوستوال لري؛ خو هغوی چې د عامو لپاره شاعري کوي، هغوی د پشکال مچانو ته ورته دي، چې د ادبي تاریخ پاڼې به یې نومونه خوندي نه کړي. هغوی چې کم لوستوال لري، هغوی د تاریخ حافظو ته ځانونه سپارلي دي، ځکه چې تاریخونه مهم او اهلي شیان ساتي.

د پښتو ادب له دوهمې پېړۍ را ونیسه تر اوسني مهال پورې ډېر زیات شاعران تېر شوي دي، خو تاسو وګورئ، چې تاریخونو ولې د ګوتو په شمار شاعران خوندي کړي دي؟ یوه وجه یې دا ده، چې اهم تخلیقونه نه خاورې کېږي. یو ډول نه یو ډول خپل ارزښتونه ساتي، ځکه چې سنجیده شاعري د زمانې ټولو اړخونو ته ځان رسوي.

یونس تنویر



په ښه خوي له بد خواهانو بې پروا يم
په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم
و هر چاته پخپل شکل ځرګندېږم
آئينه غوندي بې رويه بې ريا يم
قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا يم
د غنچې په څېر په شل ژبو خاموش يم
لکه بوی هسې په پټه خوله ګويا يم
هم په دا سپينو جامو معلومېږم
لکه ابر هم ګوهر يم هم دريا يم
دراز عمر مې حاصل شو له راستيه
لکه سر و مدام سبز و تازه پايم
که چا لار د عاشقۍ ده ورکه کړې
زه رحمان د ګمرهانو رهنما يم

رحمان بابا



خوله به گونگۍ شونډې به پرې کړم څه به نه وایمه
ژبه به هم ټوټې ټوټې کړم څه به نه وایمه

پرېږده چې لولپه شي هیلې د حقبینو خلقو
زه به یې هسې تماشې کړم څه به نه وایمه

د پلرنۍ میراني شناختې به مې ونړوم
ښکته به یې زه لوړې شملې کړم څه به نه وایمه

په ارزو گانو او روا هیلو به اور پورې کړم
وروستي بخري بې ایرې کړم څه به نه وایمه

تور ته به تور نه وایم سپین به زیاتي سپین نه بولم
ددې توپیر شمعې به مړې کړم څه به نه وایمه

وینم د حق جنازه ووځي د باطل له لاسه
په دې به هم سترگې ړندې کړم څه به نه وایمه

نور به گوهر پسې دریاب غوپې ونه وهم
د ساحل خنډې به لمبې کړم څه به نه وایمه

ملا دُر محمد گوهري


طارق چو بر کنارهٔ اندلس سفینه سوخت
گفتند کار تو به نگاه خرد خطاست
دوریم از سواد وطن باز چون رسیم
ترک سبب ز روی شریعت کجا رواست
خندید و دست خویش بشمشیر برد و گفت
هر ملک ملک ماست که ملک خدای ماست
اقبال لاهوری

# غزې ته سرود

ته پرځولی شې د ټولو شیطانانو غرور
ته یې ویشتی شې د غضب د شهابونو په نُور
د ژوند زیتون یې ترېنه غوڅ غوڅ دي د اور په ارو
ربه درمان یې شې بې حده فلسطین دی رنځور
د بُورو ورارو د پلار مړو یتیمانو ربه
یه په غزه کې د شهیدو ماشومانو ربه

***

په آسماني تندر یې ووله مانۍ د ستم
چې وینې څښونکي ظالمان شي له نړۍ تري تم
نېست و نابود کاندې الهي د غزې قاتلان
دا شیطانان چې یې پر سر د مځکې پښې نه شي تم
د فلسطین خاوره د امن په ګلشن واړوې
د ونو بوټو د بلبلو د ګلانو ربه ------

***

غزه غرځه ده ترېنه شاوخوا پړانګان دي را تاو
غزه پرۍ ده ترېنه چارچاپېر دیوان دي را تاو
ربه په نویو ابابیلو یې ساتنه وکړې
بلا تشبیه لکه کعبه ده ترې فیلان دي را تاو
فیل او د فیل یاران په قهر په غضب واړوې
د فلسطین د اوښکو وینو دعاګانو ربه



نړی ړنده، په سترګو وینې د غزې نه وینې
باران د اوښکو، ډلې ډلې جنازې نه وینې
پر غزه اور وُرې، غافل او بې احساسه جهان
سوې په اور کورونه ماتې دروازې نه وینې
په محافظو ملایېکو غزه ته و ساتې
لاس نیوی وکړې د لوېدلیو محکومانو ربه ---

***

اغزې د ظلم یې په سترګو په نظر کې اوسې
غزه یو زړه دی چې په څوکه د خنجر کې اوسې
خالقه ته یې ساتندوی شې په کې و یې ساتې
دا د لرګې بېړی د اور په سمندر کې اوسې
ته یې را وباسې د امن د نجات ساحل ته
د غریبانو ربه یه د مظلومانو ربه ...

پیرمحمد کاروان

با خودی هرگز نگردد دل ز درد و غم جدا
هر که از خود شد جدا شد از غمِ عالم جدا
نان جو خور در بهشتِ جاودان پاینده باش
کز بهشت از خوردنِ گندم شده‌ست آدم جدا
تا تو را چون گل در این گلزار باشد خرده‌ای
دیدهٔ شوری بود هر قطرهٔ شبنم جدا
دور گشتن از سبک‌روحان بود بر دل گران
می‌شود سنگین چو عیسیٰ گردد از مریم جدا
در حریمِ وصل اشکِ شور من شیرین نشد
کعبه نتوانست کردن تلخی از زمزم جدا
چون ز صد گرداب کشتی سالم آید بر کنار؟
نیست ممکن دل شود زان طره‌ی پر خم جدا
لذتِ خاصی‌ست با هر بوسهٔ لبهای او
می‌شود نقشِ نوی هر دم از این خاتم جدا
چون دو تا شد قد وداعِ روح را آماده باش
کز کمان تیرِ سبکرو می‌شود یکدم جدا
توسنِ عمرِ تو را کردند از آن صَرصَر خَرام
تا تو کاه و دانهٔ خود را کنی از هم جدا
تا دمِ رفتن سبک از جا توانی خاستن
مال را در زندگی از خویش کن کم کم جدا
نی که جان را تازه می‌سازد ز قُربِ همنفس
قالبِ بی‌جان شود چون گردد از همدم جدا
نیک و بد را می‌کند صائب فلک هم‌امتیاز
گندم و جو را کند گر آسیا از هم جدا

صائب تبریزی





داد حق عمری که هر روزی از آن
کس نداند قیمت آن در جهان
خرج کردم عمر خود را دم بدم
در دمیدم جمله را در زیر و بم
آه کز یاد ره و پردهٔ عراق
رفت از یادم دم تلخ فراق
وای کز تری زیر افکند خرد
خشک شد کشت دل من دل بمرد
وای کز آواز این بیست و چهار
کاروان بگذشت و بیگه شد نهار
ای خدا فریاد زین فریاد خواه
داد خواهم نه ز کس زین دادخواه
داد خود از کس نیابم جز مگر
زانک او از من بمن نزدیکتر
کین منی از وی رسد دم دم مرا
پس ورا بینم چو این شد کم مرا
همچو آن کو با تو باشد زرشمر
سوی او داری نه سوی خود نظر

مولانا



# د قوشتېپې کانال اقتصادي ارزونه

د لویو اقتصادي پروژو د پلانولو په اړه تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې پلی کوونکی یې لومړی باید د پروژې د تخنیکي شونتیا ترڅنګ د هغې د اقتصادي شونتیا په اړه هم کافي ډاډ تر لاسه او هغه پانګه چې پر پروژې لګوي له اقتصادي پلوه یې باید توجیه کړای شي. د قوشتېپې کرنیزه پروژه د سایز، لګښت، وخت، تخنیکي پېچلتیا، اقتصادي-ټولنیزو او محیط زیستي اغېزو او د زېربنا له پلوه په افغانستان او سیمه کې ستره پروژه (Mega project) بلل کېږي. دغو حقایقو ته په پام سره، پروژې په افغانستان کې د افغانانو په زړونو کې لویې هیلې راټوکولې دي. اوس د پروژې مدیرانو ته بویه چې د پروژې د ښه مدیریت ترڅنګ عامه انتظارات او توقعات هم مدیریت کړي.

ما په دې لیکنه کې د پروژې په اقتصادي تحلیل کې د قوشتېپې پروژې د امکان ارزونې مطالعې له ډېټا څخه چې په ۲۰۱۹ کال کې د امریکا د پراختیایي اداري (USAID) په مالي ملاتړ، د افغانستان د کرنې او اوبو لګونې وزارت له لوري چمتو شوې وه، ګټه اخیستې ده. نو په دې اساس په اقتصادي تحلیل کې زما ټولې فرضیې پر همدې ډېټا بنا دي. سربېره پر دې، دا ټکی هم باید روښانه کړم چې د قوشتېپې پروژې له اقتصادي تحلیل څخه زما موخه هغه پروژه ده چې د ۲۰۱۹ کال د امکان ارزونې په مطالعه کې د اوبو لګونې د یو ستر سیستم په توګه په پام کې نیول شوې وه او ټاکل شوې وه چې د ۲۷۱،۰۰۰ هکتاره د کښت وړ ځمکې د خړوبولو په موخه د ۲۲۲۹ میلیون امریکایي ډالرو په پانګونې سره په څلورو پړاوونو (فازونو) کې د ۱۲ کلونو په موده کې پلې شي. د امکان ارزونې د مطالعې له مخې، د همدې پلان او ډیزاین په حدودو کې د پروژې پلي کول مثبت اقتصادي نتایج وړاندې کوي، خو د پروژې په مخکښني سکوپ او پلان کې هر ډول بدلون پخواني نتایج نه شي تضمینولی او اړتیا ده چې د پروژې د اقتصادي معقولیت او ګټورتوب په اړه نوي مطالعات وشي. دا تر اوسه څرګنده نه ده چې ایا د پروژې پلی کوونکی (د ملي پراختیا شرکت) د همدې مخکښني پلان مطابق روان دی او که شته سرچینو او امکاناتو ته په کتو یې د پروژې په سکوپ کې بدلون راوستی. د بدلون په صورت کې د پروژې د اقتصادي ګټورتیا اوغنامندۍ په اړه دقیقه وړاندوینه ستونزمنه ده، په ځانګړې توګه د پروژې د امکان ارزونې مطالعات دا فرضیه نه شي ثابتولی چې ګنې قوشتېپه دې د پنځه لکه او پنځوس زره (۵۵۰،۰۰۰) هکتاره ځمکې د خړوبولو وړتیا ولري. همدغه حقیقت ته په کتو سره، د پروژې په اړه زما تحلیل به پر هغو پارامترونو او شاخصونو ولاړ وي چې د امکان ارزونه مطالعه کې په ګوته شوي دي. په دې توګه، موږ د پروژې اقتصادي ګټه د لاندې ٦ عمده شاخصونو له مخې تحلیلوو.

## ۱. تر پوښښ لاندې ځمکه

د کښت لپاره په بالقوه توګه ټولټال ۵۵۰،۰۰۰ هکتاره ساحه (Command Area) په پام کې نیول شوې وه خو د کانال ساحې د خاورې لابراتواري ازمایښت او مطالعه ښيي چې له دې جملې یوازې ۲۷۱،۴۲۱ هکتاره ځمکه د کښت وړ ده. له بده مرغه مطالعات څرګندوي چې د کانال لپاره د پام کې نیول شوې ځمکې خاوره لوړ القلي خاصیت لري (د ۹-۸ ترمنځ) چې د کرنې له نظره تر (۷) درجو زیاته القلي پر ځمکه د نباتاتو د ودې وړتیا راکموي. د خاورې وړتیا د طبقه بندۍ له مخې د قوشتپې لپاره په پام کې نیول شوې ۵۵۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې څخه ۴۹٪ (۲۴۱۵۰۰ هکتاره) په ۲ یمه، ۳یمه او ۴یمه درجه ځمکو کې راځي چې له متوسط څخه نیولې تر کمې اندازې د کښت وړتیا لري؛ پاتې ۳۰.۹٪ ځمکه په ۵مه او ۲۰.۲٪ په ٦مه طبقه ځمکو کې راځي چې په نورمال ډول د کښت وړ نه ده، مګر دا چې د القلي د خنثي کولو لپاره له ځینو کرنیزو پروسیجرونو څخه تېره شي چې دا کار لوړ مالي لګښت او وخت ته اړتیا لري. که چېرې دغه شاوخوا ۵۱٪ سلنه ځمکه چې سملاسي د کښت وړ نه ده، اصلاح شي، د پروژې ټوله د کښت وړ ساحې کچه ۳۹۳،۵۰۰ هکتاره ته لوړېدای شي، په دې توګه زیاته اندازه ځمکه زیاته اندازه کرنیز محصولات تولیدولی او له پروژې څخه نسبتاً لوړ عواید پنځولی شي، خو دلته زموږ په اقتصادي تحلیل کې د کښت وړ ځمکې اندازه چې د امکان ارزونه مطالعه کې هم تایید شوې، شاوخوا ۲۷۱،۰۰۰ هکتاره ده.

## ۲. د کرنیزو محصولاتو ډولونه

د کانال ځمکه د ۲۰ ډوله کرنیزو محصولاتو لپاره مناسبه بلل شوې: غنم، وریجې، جوار، توربانجان، بادرنګ، ګازرې، مرچ، هندوانې، خټکې، ممپلي، اینجه، پنبه، کونځلې، د زغرو دانې، پیسته، بادام، منې، انار، مندکې لرونکې مېوې او نخود. له دې جملې ۸ قلمه محصولات له وړاندې د بلخ او جوزجان په ځمکو کې کرل کېږي. په ۲۰۱۹ کال کې په نړیوال او داخلي مارکېټ کې د یادو محصولاتو قېمت د اسعارو د تبادلې د (afs ۷۸,۳٦=۱$) نرخ په پام کې نیولو سره محاسبه شوی چې پربنسټ یې د یادو ۲۰ ډوله کرنیزو محصولاتو کلنی اقتصادي ارزښت ۵۹۹ میلیونه امریکايي ډالره تخمین شوی دی.



### ۳. د کرنیزو محصولاتو په تولید کې زیاتوالی:

د بلخ او جوزجان کروندګر اوسمهال کافي او دوامداره اوبو ته د لاسرسي له امله له خپلو ځمکو په کال کې یوازې یو فصل حاصل ترلاسه کوي، خو د (cropping intensity) له تحلیل څخه په استفادې کولای شو ووایو چې د قوشتېپې کانال کولای شي چې په جوزجان او بلخ کې ځمکو ته د دوامداره اوبو د رسولو په صورت کې د کال ۱ فصل حاصلات ۲ فصلونو ته لوړ کړي چې په دې توګه د کرنیزو محصولاتو په تولید کې د پخوا په پرتله دوه چنده زیاتوالی اټکل کېږي. د کرنیزو محصولاتو په تولید کې د زیاتوالي کلنی اقتصادي ارزښت هم ۵۹۹ میلیونه تخمین شوی. دغه محاسبه د اوسني تولید او راتلونکې تولید د مقایسې پربنسټ شوې ده، چې ډېر جزییات یې دلته نه شي لیکل کېدای.

### ۴. مالداري او مرغداري:

مالداري د قوشتېپې کانال ته څېرمه سیمو کې هم د افغانستان د نورو کلیوالي سیمو په څېر د خلکو دویمه عایداتي سرچینه ده. په دې سیمه کې مېشت خلک معمولاً ۱۰ ډوله بېلابېل کورني څاروي ساتي او روزي: پسونه، اوزې، غواګانې، خره، آسونه، اوښان، قره قول، چرګان، فیل مرغان او هیلۍ. د ساحوي سروې له مخې په ۲۰۱۹ کال کې د پروژې ساحه کې ۸۶،۱۹۸ کورنیو مالداري او مرغداري کوله، چې په دې توګه په ساحه کې د کرنې او اوبو لګونې د وضعیت له بهبود سره سم به څارویو ته هم کافي خواړه او واښه برابر شي چې د محاسبې له مخې د قوشتېپې پروژه هر کال د مالدارۍ له درکه ۴۹.۶۰ میلیونه ډالر عواید پنځولی شي.

**۵. د اوبو لګونې له درکه ترلاسه کېدونکي عواید:** د ابیارۍ له درکه د عوایدو ترلاسه کولو لپاره تر ابیارۍ لاندې ساحې د قېمت ګذارۍ (Area/irrigation-based pricing) له میتود څخه استفاده شوې چې د پروژې د پام وړ ساحې د فی هکتار/فصل د ابیارۍ ګټه ۲۵ ډالره محاسبه شوې چې په دې توګه د ابیارۍ د عوایدو له درکه د قوشتېپې د ټولټال ۲۷۱ زره هکتاره ځمکې کلنی عاید ۷.۷۸ میلیونه ډالر تخمین شوی دی.

### ٦. کاري فرصتونه:

د تخمین له مخې د قوشتېپې پروژه د ساختمان په موده کې چې ۱۲ کاله اټکل شوې ده، د کال ۲۵،۵ میلیون ډالرو په ارزښت کاري فرصتونه او تر هغه وروسته د فعالیت په ټوله موده کې د پروژې د ساتنې او څارنې له درکه هر کال د ۵،٦ میلیونه ډالرو په ارزښت کاري فرصتونه رامنځته کولای شي.

د پورتنیو شاخصونو د اقتصادي تحلیل پایله ښیي چې د پروژې د داخلي ګټې کچه (IRR) د پروژې د ٪۲۰ احتمالي لګښتونو د زیاتوالي او د ٪۲۰ احتمالي ګټې د کموالي د سناریوګانو په پام کې نیولو سره، ٪۱۹.۵۹ اټکل شوې چې د تخفیف نرخ (Discount rate-٪۹) پرتله لوړ دی، چې دا وضعیت د پروژې د اقتصادي ګټورتوب ښودنه کوي.

همدارنګه د دواړو سناریوګانو (د لګښت ٪۲۰ زیاتوالی او د ګټې ٪۲۰ کموالی) په پام کې نیولو سره د پروژې اوسنی خالص ارزښت (NPV) ۳۱۱۱ میلیونه ډالره تخمین شوی او د لګښت-ګټې تناسب (BCR) هم ۳.۹۵ ښودل شوی دی چې د پروژې په اقتصادي تحلیل کې دا فکتور هم د پروژې د اقتصادیوالي وړاندیز کوي.

د پایلې په توګه، که چېرې د قوشتېپې کانال کرنیزه پروژه له پخواني ډیزاین او پلان سره سمه پلې شي، له اقتصادي پلوه شوني او د هېواد پر اقتصادي ودې د پام وړ مثبتې اغېزې لرلی شي؛ خو لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د پروژې په لومړني سکوپ کې هر ډول بدلون نه شي کولای چې دغه اټکل شوې اقتصادي ګټه تضمین کړي، بلکې له نویو شرایطو سره نویو مطالعاتو ته اړتیا ده. نویو شرایطو ته په کتور سره، د پروژې ټول تخنیکي، اقتصادي او محیط زیستي خطرات (رېسکونه) دقیقې ارزونې او مدیریت ته اړتیا لري؛ ځکه چې په دې مقیاس پروژې د فرصتونو ترڅنګ لوړ اقتصادي خطرونه هم لرلای شي.

اړتیا ده چې د ملي پراختیا شرکت له نویو شرایطو سره د پروژې د پلې کولو پرمهال چې وکولای شي په اوږدمهال کې د پروژې اقتصادي ګټورتیا تضمین کړي، څو ټکي په پام کې ونیسي: د بروژې د تمویل لپاره اړتیا ده چې د شرکت پر عوایدو سربېره نورې د ډاډ وړ او دوامداره سرچینې وموندل شي؛ د کانال د آبیارۍ سیستم او شبکه لکه څنګه چې پخوا ډیزاین شوې وه، باید تغیر نه شي، یعنې له یو معقول مهالوېش سره سم د اصلي کانال ترڅنګ د فرعي کانالونو، دویمي کانالونو، دریيمي کانالونو او څلورمي کانالونو بشپړول؛ د فاریاب د اندخوی پروژې سره د اصلي کانال نښلول چې د کښت لپاره د پام وړ ساحه ورسره پراخېږي؛ په بلخ کې د شاوخوا ۵۵ زره هکتاره اضافي ځمکې د خړوبولو لپاره چې د سطحې د لوړوالي له کبله په فشار اوبه نه شي ورتلای، د سولري واټرپمپونو د شبکې جوړول؛ د اوبو جریان د تنظیم او د اوبو لګونې د اساسي ساختمانونو جوړول او د ځمکو د مالکیت او له هغو څخه د ګټې اخیستنې لپاره دقیقه پلان جوړونه.

نظیم سمون

# د موبایل لپاره د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون اپلیکېشن جوړ شو

د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون چې د هېواد تر ټولو لویه ملي او دولتي رسنۍ ده، د خپلو خپرونو د پراخ پوښښ لپاره یې د موبایل اپلیکېشن جوړ کړ. دغه اپلیکېشن پینځه برخې لري؛ چې په لومړۍ برخه کې یې د څلورو راډیوګانو« شریعت غږ، ملي راډیو، معارف راډیو او ترنم راډیو» ژوندۍ خپرونې ۲۴ ساعته خپرېږي. په دویمه برخه کې د دغو څلورو راډیوګانو ثبت شوې خپرونې موجودې دي، چې هره ورځ د ځانګړو خپرونو په نوم ثبتېږي او بیا خپرېږي. په دریيمه برخه کې د څلورو تلوېزیوني چاینلونو « ملي تلوېزیون، ملي سپورټ، معارف تلوېزیون او ملي نیوز تلوېزیون» ژوندۍ ۲۴ ساعته خپرونې خپرېږي. په څلورمه برخه کې به د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له وېب‌پاڼې( www.rta.af) څخه انځورونه، لیکنې او نور مطالب دغه اپلیکېشن ته لېږل کېږي او په دې برخه کې به خپرېږي. په وروستۍ یا پینځمه برخه کې به د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له وېب‌پاڼې څخه ویډیويي خبرونه په مستقیمه توګه دې برخې ته پرته له کوم ځنډ راځي او پکې به خپرېږي.

د دغـه اپلیکېشـن برنامـه لیکنـه پـه « Dart programing Language ، Java script» بانـدې شـوې ده او پکـې لـه «Getx mini framework for Flutter ,Node js , Express js , Mongo Db , Firebase storage, and Messaging for cloud » ټکنالوجـۍ ګټـه اخېسـتل شـوې ده.
دغـه اپلیکېشـن د اندوربـډ، سامسـونګ، IOS او Apple پـه ټولـو موبایلونـو یـا Platforms فلـټ فارمونـو کـې د نصب یـا ځـای پـر ځـای کېـدو وړتیـا لـري او پـه راتلونکـې کـې بـه یـې د Andorid TV لپـاره هـم د نصبېـدو وړ وي.
د اپلیکېشن ځیني ځانګړنې په لاندې ډول دي:
چټکتیـا: لـه کومـه ځایـه چـې پـه دې اپلیکېشـن کـې لـه « mini framework Getx » څخـه ګټـه اخېسـتل شـوې، چټکتیـا یـې خـورا ډېـره لـوړه ده او لـه جامېـدو څخـه یـې مخنیـوئ کـوي او د ا دې لامـل ګرځـي، چـې پـه اپلیکېشـن کـې شـته مطالـب د لیدونکـي یـا اورېدونکـي د انټرنېـټ پـه کیفیت پـورې اړه ولـري.
د انټرنېـت لګښـت: دغـه اپلیکېشـن لـه وېب‌پاڼـې څخـه راخیسـتل شـوې خبرونـه د تلیفـون پـه حافظـه کـې ساتـي، چـې د انټرنېـټ د کـم لګښـت لامـل ګرځـي او د Offline Mode کارېـدو وړ هـم دی.
ژبـې: دغـه اپلیکېشـن پـه دواړو مـلي ژبـو« پښـتو او دري» او یـوې نړیوالـې ژبې«انګلیسـي» د بدلېـدو وړ دی او د ژبـې ټاکنـه یـې خپلـه پـه کاروونکـي پـورې اړه لـري.
دا اپلیکېشـن د افغانسـتان ملي راډیـو تلوېزیـون د زیارکښـو او خلاقـو کارمنانـو لخوا پرتـه لـه کـوم لګښـت جـوړ شـوی، چـې اوس مهـال تاسـو کـولای شـئ، د خپـل موبایـل پلې‌سـټور تـه ورشـئ، RTA پـه لټـون ځـای کـې ولیکـئ او د دې اپلیکېشـن لـه لـوري د افغانسـتان او نـړۍ لـه تـازه پېښـو، مطالبـو او خبرونـو څخـه ځانونـه خبر کـړئ.
د افغانسـتان ملي راډیـو تلوېزیـون پـه افغانسـتان کـې د افغـان ملـت ریښـتینی غـږ دی، چـې تـل یـې لـه ملي ګټـو او ارزښـتونو څخـه د اسلام سـپېڅلي دیـن پـه رڼـا کـې سـاتنه کـړې او لا هـم د هېوادوالـو د عامـه پوهـاوي او نـورو لسـګونو برخـو کـې شـپه او ورځ زحمـت ګالـي، چـې ټولنیـز فکـر مـو د ابـادۍ جوګـه وګرځـي.









# برگشت مهاجرین و عودت کننده گان به کشور

در چند دهۀ اخیر صدها هزار هموطن ما بر اثر جنگ، نا امنی، تهاجم و اشغال روسیه وامریکا بر افغانستان، مجبور به ترک وطن شدند، تعدادی زیادی هموطنان ما به کشورهای همسایه و جهان آواره شدند چندین دهه عمر خود را در دیار غربت با انجام دادن کار های شاقه سپری کردند، از این جمله شمار زیاد مهاجرین افغانستان به کشور پاکستان پناه بردند بدبختانه در این آواخر دولت پاکستان به طور غیر قانونی، غیر اسلامی، در مغایرت با تمام نورم های بین المللی مهاجرت، به گونه‌ای خشن و در مخالفت با حسن همجواری تصمیم گرفت تا به گونه‌ای اجبار مهاجرین افغانستان را از آن کشور اخراج کند، در ماه های واپسین دولت پاکستان زمینه زندگی افغانها را در آن کشور تنگ و تنگ‌تر ساخت خانه و کاشانه آنان را خراب کرد در شهر و بازار مهاجرین را دست‌گیر کرده به بند کشید، کار و تجارت آنان را از دست‌شان گرفت سرانجام مهاجرین افغانستان را به اخراج واداشت، حتی مامورین دولت پاکستان هنگام برگشت مهاجرین زیورات، پول نقد، وسایل و اموال قیمتی آنها را نیز از ایشان می‌گیرند و آنان را با دست خالی به کشور برمی‌گردانند.





دولت پاکستان در ظرف سه ماه اخیر حدود نیم میلیون مهاجر افغانستان را به طور اجباری از آن کشور اخراج کرده است و این پروسه همچنان ادامه دارد، امارت اسلامی افغانستان برای کنترول و مدیریت مهاجرین برگشته به کشور، تصمیم های خوبی روی دست گرفته است، مهاجرین معمولاً از دو بندر (تورخم و سپین بولدک) به افغانستان برگشتانده میشوند، امارت اسلامی در هردو مرز به مهاجرین کمپ‌ها را ایجاد کرده است، در این کمپ ها برای درمان مهاجرین داکتران را موظف ساخته و به آنان شفاخانه‌ها ساخته است، همچنان در این کمپ‌ها به عودت کننده گان آب آشامیدنی و غذا تهیه می‌شود و برای آن زمینه زندگی موقت فراهم شده است.

دولت مهاجرین را در این کمپ ها جابجا میکند و از آنجا مهاجرینی را که می‌خواهند به ولایات و ولسوالی های شان برگردند با ترانسپورت مجانی دولت امارت اسلامی به مکان های مورد نظرشان رسانیده میشوند، با هر خانواده از سوی دولت مقدار ده هزار افغانی پول نقد کمک میشود علاوه بر آن از سوی نهادهای مدد رسان ملی و بین المللی نیز با مهاجرین کمک‌های صورت می گیرد.

# فکري خپلواکي څه ده؟

فکري استقلال دې ته وايي چې، يو څوک په فکر کولو او تصميم نيولو کې خپلواک وي او په شرعي چوکاټ کې د هر شي په اړه ځان ته مستقل فکر لري، په دې مانا چې، په اراده او تصميم کې تزلزل او وسوسه ونه لري او په هر چا پسې نه روانېږي، بلکې په هره موضوع کې ځان ته آزاد او پوره فکر لري.

## د فکري خپلواکۍ ګټې:

فکري خپلواکي هغه لوی نعمت دی، چې الله تعالی هر چا ته ورکړې، څوک چې فکري خپلواکي ولري، هغه د فرد او ټولنې لپاره د مهمو ګټورو نظرونو پر لټولو او وړاندې کولو تخليقي قدرت او وړتيا لري او د هغه څه په وړاندې چې د ده پر شا او خوا پيښيږي، منطقي خپلواک دريځ غوره کولای شي.

څوک چې فکري خپلواکي ولري، هغه هيڅ وخت د بل چا د منفي فکر تابع نه جوړيږي، ځکه نو ته په خپلواک فکر له نورو سره مبارزه کولای شې او هغوی ته ماتې ورکولای شې.

د فکري خپلواکۍ فلسفه دا ده، چې هيڅوک ستاسو د فکر په څېر کار نه شي کولای او نه هم بل څوک په تمامه مانا ستاسې استازولي کولای شي، ځکه نو ته بايد فکري خپلواکي ولرې، تر څو په هر ځای او هره فيصله کې خپل استقلال په ثبوت ورسوې.

څوک چې فکري خپلواکي ولري، هغه د انفرادي مفکورې د جوړولو، د نورو پسې له تللو، د ځان د آزادۍ، په ړندو سترګو له ساده تقليده د ځان ساتنې او د سختو کارونو د کولو استعداد پيدا کوي.

فکري استقلاليت په انسان کې داسې قوت پيدا کوي، چې پر مټ يې صحيح کلتور اختيارولای شي، تحقيق کولای شي، رغنده تنقيد کولای او منلای شي او په ټولو ماناوو د خپلواکۍ په هنر ځان ښايسته کولای شي، چې په نتيجه کې يې فکري شتمني او هر اړخيزه نېکمرغي لاس ته راوړلای شي.

فکري خپلواکي فرد ته دا وړتيا هم ورکوي، چې د واقعيت په اړه بحث وکړي او د واقعيت سره ټول ټکر شيان رد کړي، چې په کړنو کې يې د منفي پايلو مخنيوی وشي او ټول هغه شيان دفع شي چې د ده په چاپېريال کې د واقعيت په زيان وي.

فرد د فکري خپلواکۍ په مرسته د ګټو نظرونو او ليدلورو څخه حقيقت او واقعيت را ايستلای شي او ښه له بده جلا کولای شي. همداسې ځان د نورو له منفي نفوذه خوندي کولای شي، ځکه نو د خپلواک او مستقل فکر والا انسان هېڅوک په خپله ګټه ناوړه کارولی نه شي او نه يې هم د نورو انسانانو پر ضد کارولای شي، خو د دې برعکس څوک چې مستقل فکر نه لري، هغه تل د تزلزل په حالت کې وي، په هره خبره کې په هر چا پسې روان وي او په يو وخت کې د يوه شي په اړه د مثبت او منفي دواړو اړخونو فکرونه کوي، ځکه چې دوه جلا اړخونه ورته مشوره ورکوي، يوه د مثبت په نوم او بل د منفي په نوم، له بده مرغه چې دی خپله هم د تميز او تفکيک فکر نه لري.

فکري خپلواکي فرد، ملتونه او ولسونه د انحصار، تسلط او غلامۍ خلاصوي او د پرمختګ او ځلېدلو لوري ته يې سوق کوي.


12242
12326
06987 23745
87364 76565
12242 06987
12326 87364
06987 23745
87364
25%
25%
25%
25%
12326 377
06987 074
87364 587
23745 858
76565
X → Y
Z
X → Y

## ولې هر فرد فکري خپلواکي غواړي؟

خپلواکي د کايناتو له پيدايښته د انسان فطرت دی، چې په درلودلو يې ځان ته داسې چاپېريال برابروي، چې خپل حاضر ژوند او راتلونکی کنټرول کړي او د سم رضايت مرحلې ته ځان ورسوي. فکري خپلواکي له پولو او وېرې پرته فکر کول او د خلاقيت او تخليقي افکارو خلاصول دي، البته د مسلمان لپاره د ديني اصولو په چوکاټ کې د ننه.

فکري خپلواک انسان خپله آزادي ساتي او په هره موضوع کې پرته له دې چې، له نورو اغېزمن شي، خپل نظر په مستقله توګه داسې ورکوي، چې د ده نظر د ده استازيتوب کوي او د بل هيچا د استيازيتوب ښکارندويي ورڅخه نه کېږي.

فکري خپلواک انسان څکه په هره مبارزه کې بريالی وي، چې په ځان باور لري او تل د خپل فکر په استعمال کې صادقانه زيار باسي.

فکري خپلواکي له عزم او ارادې پرته نه راځي همداسې هڅو، تجربو، د احساساتو کنټرول او له خلکو سره تعامل ته اړتيا لري.

څنګه د فکري خپلواکۍ خاوند کېدای شې؟

١ – په ځان باور ولرئ؛ ځکه چې په ځان باور د برياليتوب لومړی راز دی، البته په ځان د باور مانا دا نه ده، چې تاسې د نورو انسانانو سره مشوره مه کوئ، بلکې مانا يې دا ده، چې د ځان څخه بې موقف مه جوړوئ، چې هر څوک يوه خبره درته وکړي او تاسې يې ورسره منئ.

٢ – مثبت و اوسئ، خپل منفي فکر په مثبتو بدل کړئ او د خلکو له منفي نظرونو مه اغېزمنېږئ، ځکه چې له نورو تأثر ستاسو په ذهني فعاليت بده اغېزه کوي.

٣ – صبر وکړئ؛ ځکه صبر د ټولو مبتکرينو او متفکرينو ځانګړنه ده، ښکلي مثبت شيان وخت ته اړتيا لري او صبر د پيغمبرانو او رسولانو خصلت دی.

٤ – په کار کولو کې ډېر کوښښ وکړئ؛ ځکه په استقامت، جديت، لېوالتيا، ارادې او هوډ سره هغه څه چې تاسو يې غواړئ، لاس ته راوړلای شئ او په دې باندې پوه شئ، چې هېڅ شی پر آسانۍ سره لاس ته نه راځي.

٥ – خپل فکر تېز کړئ، په هره مسئله کې چې تاسو ورسره مخېږئ، منطق وکاروئ او د هغو پخوانيو باورونو د ردولو لپاره کار وکړئ، چې ستاسو د مثبت منطق او فکر سره تضاد لري.

٦ – خپلو افکارو ته په ډېر غور سره پاملرنه وکړئ، ممکن تاسې په خپل ژوند کې ډېر فکرونه وکړئ، خو هر فکر مو بايد له غور او تحقيق ډک وي، تر څو د شعوري تېروتنې او انحرافه وساتل شي.

٧ – د منل شويو متفکرو اشخاصو فکرونه پر ځان را ټول کړئ، د دوی لاره تعقيب کړئ او تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې پر ځان خلک راټول کړئ، چې ستاسو د ننه عظمت ويني، ستاسو پر وړتياوو باور لري او ستاسو د هڅولو لپاره کار کوي.

٨ – په دې باندې باور ولرئ چې ټول کارونه مو کېږي، ځکه باطني عقل ستاسو په بريا کې خورا

لوی رول لري او تاسو کولای شئ ټول شیان ځانونو ته په خپله را جلب کړئ. دا په یاد ولرئ چې یو یا څو ځله له خپلې ناکامۍ مه مأیوسه کېږئ، ځکه چې په هر شي کې پایلې ته اعتبار شته.

مولوي نورالحق مظهري



# ستاسو برخه



چیستان : در گوش و چشم هست ولی در دهان نیست؟

چیستان : یک چشم دارد اما نمی بیند!

چیستان : آن چیست که اتاق داره، هال نداره، دیوار داره، در نداره؟

کیسی :هغه څه دی، چې لیکلی شي، خو لوستلی یې نشي!

چیستان :آن چیست که سفید است، برف نیست، ریشه دارد، درخت نیست؟

کیسی : هغه څه دي؛ چې په دنیا کې دي، دنیا هم په هغه کې ده؟



د ځوانانو او نویو ځوانانو لپاره:

که په تاسو کې هر چا د لاندې موضوع په اړه ځېرنیزه لیکنه وکړه او منځپانګه یې غني وه، اخځلیکونه یې ورسره لیکل شوي وو، زموږ تخنیکي ټیم یې لولي او ګټوونکي به د افغانستان ملي راډیو تلوېزیون له لوري ستایل کېږي، همدارنګه به د افغانستان ملي ټلوېزیون په «سلام سهار مو نېکمرغه» خپرونې کې مېلمه کېږي او لیکنه به یې د مجلې په راتلونکې ګڼه کې هم خپرېږي. هڅه وکړئ او لیکنې مو په لاندې ایمېل موږ ته راولېږئ.

موضوع: (د ځمکې لاندې اوبه ارزښت)

rtamagazine1320@gmail.com

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی؛ د هېواد په بیارغونه کې باید ټول ونډه واخلو، ځکه چې دا مو هېوادنۍ مکلفیت او دیني وجیبه ده؛ په ټولو جهتونو غور کوو، چې موږ له هېچا سره ذاتي دښمني نه غواړو. زموږ غېږه د خپلو هېوادوالو پرمخ خلاصه ده، دوستي او دښمني مو د اسلامي اصولو پر بنا ده.

عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوی
هبة الله اخند زاده حفظه الله

